شریعت

اونیزه

د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریك نشراتی ارگان

خدای «ج» ظالمان نه خوښوی

«دبدي بدله لوي خداي (جل جلاله) فرمايي:
دهغي په شان بدي ده ، نوكه چابښنه وكړه اوصلح يي
وكړه، نو اجر يي په الله «ج» باندی دی .بي شكه چي
الله «ج» ظالمان نه خوښوي..

ژباړه (الشورى - ٤٠)

دظلم څخه ډده کوه

حضرت علي رضی الله تعالی عنه وایی، د الله
رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: « دمظلوم
له ښیرا څخه ځان ژغوره ، داځکه چی هغه له الله
تعالی څخه خپل حق غواړی ، اوالله تعالی د حق
لرونکی حق نه منع کوی. »

(مشكوة - باب الظلم)

لومړی کال | څلور دیرشمه گڼه | دوشنبه د ۱۳۷۵ هـ ش کال د سنبله د میاشتی (۱۲) | د ۱۹۹۶ میلادی کال د سپتمبر (۲) | د۱٤۱۷ هـ ق کال ربیع الثاني (۱۹)

جناب امیر المؤمنین رهبر عالی قدر تحریك اسلامی در مصاحبهء خویش با مجلهء «الطالب» فرمودند:

یکجا شدن ربانی وحکمتیار تنها برمبنای منفعت شخصی صورت گرفته که در راه حل مشکلات ملت رنجیده ماهیچ کمکی کرده نمیتواند که به همین اساس هم وطنان ما کدام توقع خیری ازآن برده نمیتوانند

ما باربار موقف صلح پسندانه خود را توضیح داشته ایم، مگر متأسفانه که نماینده خاص ملل متحد در مورد حل مسئله افغانستان با خود کدام طرح مشخصی نداشتند

ازهمه مسلمین آرزوی ماینست که مساعی مشترك خودرا از مادریغ نداشته تا در کشور عزیز ما حاکمیت اسلام تأمین گردد

مجله وزین « الطالب» که بزبان عربی
بخش میگردد وناشر افکار تحریك اسلامی
طالبان میباشد، در این اواخر مصاحبه ئی
داشته باجناب امیر المؤمنین رهبر گرامی
القدر تحریك اسلامی طالبان که مایه تشکر
از مجله محترم «الطالب» متن دری آن
مصاحبه راخدمت خوانده گان هفته نامه
شریعت تقدیم میداریم.
سوال : محترما! به ارتباط اتحاد یا
ائتلاف خود بااهل تشیع برای ما چیزی گفته
میتوانید؟
جواب: ما افغانستانرا مسکن مشترك
پاتي په (٤)

یوتن قاتل په قصاص ورسید

دارزگان ولایت له دیراوت څخه
زموږ خبریال خبر راکوی چی
قاتل شیرمحمد دباز محمد زوی
دقتل په جرم دشرعی محکمی له
خوا په قصاص ورسید.
خبریال وایی دغه قاتل، اختر
محمد دگل محمد زوی په بیگناه
توگه وژلی او دهغی ولسوالی
دامنیتی افرادو له خوا نیول شوی
و، قاتل دتحقیقاتو لپاره شرعی
محکمی ته سپارل شوی
اودمحکمی دپوره تحقیق په
نتیجه کی دا ثابته شوه چی
مقتول بی بی گناه وژلی دی.
شرعی محکمی دخپل شرعی قرار
له صادرولو وروسته په عام
محضر کی قاتل شیرمحمد قصاص
کړ ترڅو دنورو لپاره دعبرت وړ
و گرځی

تنظیمه رئیس ملا محمد حسن اخند دغزنی اوخوست له مسئولینو او مشرانو سره په خبروکی وویل:

دا دکتاب حکم دی چی کوم امام یا پاچا په کوم ملك کی امن راولی نو پر خلکو لازمه ده چی دده اطاعت وکړی

له غزنی ولایت څخه زموږ خبریال خبر
راکوی چی تنظیمه رئیس او دکندهار پخوانی
والي محترم ملامحمد حسن اخند په غزنی
کی دهغه ولایت له امنیه قوماندان اوفرقی
له مسئول محترم حاجی عبدالودود سره
وکتل.
پاتي په (۲)مخ

په زیروك کی اته تانکونه اوپه زیات شمیر سپکه او درنده وسله دطالبانو دځواکونو لاس ته ورغلی ده

اوس په زیړوك کی امنیت دی او دواړو خواوته دسر اومال تاوان نه دی رسیدلی

درنو هیوادوالو ته به په یاد وی کله چی په
پکتیکاکی دخالد په مشری دحزب اسلامی
قوتونه وټکول شول ، نو په زیروك کی
دقوماندان پاری په مشری هغوی ته یو شمیره
علما اوقامی مشران ولیږل شول چی درنه
وسله بیت المال ته وسپاری، هغه هم داخیره
ومنله اوژمنه یی وکړه هر وخت چی
دطالبانو اسلامی تحریك لازمه وبولی زه به
پاتي په (٤)مخ

داسلامی تحریك محترم مرستیال ملا محمد رباني د وروستیو تحولاتو په اره وویل:

په وروستیو فتوحاتو کی دخدای مرسته اودمسلمانو خلکو همکاری له موږ سره وه

دیر ژر به ټول هیواد له ظلم اوفساد څخه نجات ومومی او اسلامی نظام به پکی نافذ شی

دطالبانو داسلامی تحریك مرستیال محترم
حاجی ملا محمد ربانی چی څه موده وړاندی
دپکتیکا پکتیا اوخوست ولایتونو ته د
ورسپارل شویو دندو د اجرا او د اتلو
مجاهدینو د رهبری اوقومندی ورکولو په
منظور تللی و په بشپړ بریالیتوب سره
کندهار ته ورسید او دکندهار والی محترم
ملا محمد حسن دمالی او اداری کمیسیون
رئیس محترم ملا نور الدین وررسره وکتل
ده دخپلی دوری په باب وویل دمخالفینو
کوم ځایونه چی داسلامی تحریك د غښتلو
مجاهدینو لاسونو ته
پاتي په (٤)مخ

که چیری موږ وغواړو دسعادت اونیکمرغی خاوندان شو، نو لازمه ده چی دامیر اطاعت او دبیت المال ساتنه وکړو اوله هره پلوه به ځان کی تقوی راولو (مولوی عبدالکبیردلوگر محترم والي)

دلوگر ولایت په مرکز کی دهغه ولایت دوالی
محترم مولوی عبدالکبیر په مشری یوه درنه
غونډه وشوه چی دولایت دزیاتو اوسیدونکو
په گډون سربیره دولایت د
بقیه ص (٤)

در ولایات هرات وهلمند به پشتیبانی از تحریك اسلامی گردهمائی های پرشکوهی ترتیب یافته بود

خبر نگار هفته نامه بشریعت از ولایت هرات
خبر میدهد که درمقر آن ولایت گردهم آئی
پرشکوهی به پشتیبانی از تحریك اسلامی
طالبان به اشتراك اهالی ،موی سفیدان قوم
بقیه ص (٤)

دتوپچی غونډ له تعلیمی مرکز څخه یو شمیر مجاهدین فارغ شول

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر راکوی
چی ددوهم لښکر قول اردو په توپچی غونډ
کی دیو شمیر مجاهدینو د روزنی له تعلیمی
مرکز څخه یو گروپ مجاهدین فارغ شول.
خبریال زیاتوی دتوپچی غونډ په دغه
تعلیمی مرکز کی زیات شمیر مجاهدین
روزل شوی اودغه فارغ شوی گروپ هم ددول
دول درندي وسلی داستعمال لاری چاری زده
کری دی.
خبریال وایی له فارغیدو وروسته دغو
مجاهدینو دیو واکمن نظامی هیئت په
وراندی خپل امتحانی انداختونه وکړل
اودمراسمو په پای کی بری لیکونه ورکړل
شول.

دطالبانو اسلامی تحریك بهرنیو خیریه مؤسسوته دکار سه زمینه مساعده کړی ده

مفتی محمد معصوم افغانی

موږ به کوښښ وکړو چی دافغانستان له خلکو سره خپلی بشری اوروغتیایی مرستی په زیاته پیمانه جاری وساتو

ساغلي بروس

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی
دسره صلیب نړیوالی کمیټی مسئول ښاغلی
بروش دعامی روغتیا له مرکزی رئیس محترم
مفتی محمد معصوم افغانی سره وکتل.
خبریال زیاتوی په دی کتنه کی چی دعامی
پاتي په (٤)مخ

قره بیگ په زور دکورنیو چارو وزارت دمعینی چاري پرمخ بیایی

دماهیپر دمعاهدی له مخی دا چوکی باید حزب ته سپارل شوی وای

دکابل په ائتلافی اداره کی
دحزب، شورای نظاراوجمعیت
ترمنځ اختلافات اوس هم موجود
دی او کله ناکله دامشکلات
دشخړو حدته رسیږی
پاتي په (۳)مخ

الحاج مولوي احمد جان له امریکا یي هیئت سره په خبرو کي وویل:

دطالبانو اسلامی تحریك په هیواد کی دظلم اوفساد دله منځه وړلو لپاره راپورته شوی دی

ملت څلور کاله موجوده مشرانو، اسلامی هیوادونو اوملگرو ملتونو ته وخت ورکړ، خو هغوی هیڅ هم ونه کړل

د امریکا دولسی جرگی دهیئت چی
دافغانستان دمسئلی دحل په اړه له یوشمیر
اړونده خواو سره یی لیده کاته وکړه دسیلی
په اوومه نیټه،دچارشنبی په ورځ یی په
پیښورکی دشریعت داوونیزی له مسئول
محترم مولوی احمد جان سره وکتل؛
دامریکا یی هیئت غړی ښاغلی پال ...
په دی کتنه کی دخپل سفر
پاتي په (٤)مخ

دجلال آباد په ښار کی د ورځی ۲۰ جنگونه کیږی

دغه جنگونه د لس زیرو لوتونو دنه اختلاڤ په
وخت پیښیږی
پاتي په (٤)مخ

خدمات دینی واجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور
ص۲

په کشمیر باندي دهندوانو ...
ص۲

دشریعت تبصره
ص۲

دادب ملغلری
۳مخ

کابل دسقوط په حال کی
۳مخ

جناب مولوي سیف الدین او جناب محترم عبدالشکور «حقانی» د اسلامي تحریك دعالي شوري غړیو

موږ دعلماوو په فتوی د روسانو او داخلی کمونستانو پرخلاف جهاد پیل کړی و

زموږ مسلمان ملت اوس تاری وهی چی حه شو هغه عمری خلافت چی مشرانو به یی له خلکو سره وعدی کولی

نن زموږ دعالی هدف په وړاندی دیری یو شمیر قوتونه یو ځای شوی اوغواړی چی زموږ په لارکی خنډونه پیداکړی

له حقانیه دارالعلوم څخه زموږ خبریال خبر
راکوی چی دعالی شوری غړی محترم مؤلوی
سیف الدین دهغه دارالعلوم په انگړ کی یوی
درندی غونډی ته په وینا کی وویل؛
له کومی ورځی نه چی په افغانستان کی
دظلم اوفساد په مقابل کی پاتی په (٤) مخ

دپکتیا والی محترم مولوی کرامت الله «فرقانیار» له بی بی سی سره په مرکه کی:

څه ناڅه پنځه نیم سوه موټره وسله اومهمات دطالبانو لاس ته ورغلی دی

درنو لوستونکو ته یاده ده چی په تیرو څو
ورځو کی دطالبانو د اسلامی تحریك اتلو
مجاهدینو په لویه پکتیا کی یو لړ بریالی
عملیات درلودل، ددغو بریالیو عملیاتو په
اړه دپکتیا والی محترم مولوی کرامت الله
فرقانیار دبی بی سی له نماینده
پاتی په (٤) مخ

سرمقاله

راځی چی واقعیتونه ومنو

دځان په ځای اسلام او افغانستان ته نجات ورکړو

افغانستان کیدای شی په مادی اومالی لحاظ دنړی په ډیرو وروسته پاتی هیوادونو کی
شمار شی ، خو اسلامی غیرت ، ایمانی جرأت ، انسانی شجاعت ، آزادی اواستقلال
یې هغه بی ساری معنوی پانگه ده چی دنړی په سترو سترو هیوادونو کی بی ډیری
لږی بیلگی په سترگو کیدای شی، دنړی هر یو استعماری او استکباری ځواك یی په
گونډو کړی، غلیم او دښمن ته یی داسی خوله ماتوونکی ځواب ورکړی چی بیا په هغه
خولو باندی روغ نه دی غږیدلی، چی د روسیی دسره استعمارماتی یی دمعاصر تاریخ
ځلانده اوطلایی باب دی .
خوله بده مرغه نن سبا په هیواد کی دکورنی تریگنی اوغیر ضروری ضدیت له کبله
چی په احساساتی توگه یو شمیر مشرانو دځان د «انا» دتسکین په منظور اوخپلو
غیرضروری او غیر شرعی گوندی گټو دساتلو په خاطر یی په غیر قانونی توگه په
قدرت باندی خپتی اچولی دی، دهیواد نړیوال وقار، دملت اسلامی او
پاتي په (۲) مخ

مابا درنظر داشت مراعات اصل عدم مداخله در امور داخلی هم دیگر خواهان روابط حسنه با تمام دول همسایه میباشیم

امیر المؤمنین ملا محمد عمر (مجاهد)

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریك
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: دلیکوال هیئت تر کتنې لاندې
مسئول مدیر : مولوي احمد جان
تیلیفون : ۸٤۰۳۷۸
آدرس : په پیښورکې دطالبانو داسلاي تحریك نمائندګي
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۵۰۰) افغانۍ
: په پاکستان کې (۳) کلداري

سرمقاله...

افغاني غرور یې تر پښو لاندې کړي دي، دملت په مقابل کې یې د واقعیتونو دمنلو په ځای دبې ځایه مقاومت لاره نیولې ده ، چې په خپل دغه عمل سره یې له یوې خوا دهیواد په داخل کې دجاني او مزدورو کمونیستانو دبیا راژوندي کېدلو اومنظم کېدلو زمینه برابره کړې ده چې دوباره دسیاسي انسجام اوسیاسي ګوندونو دجوړولو بې شرمه هڅې کوي. اوله بلې خوا یې دنړۍ او دسیمې غیر مخلصو اوبدنیتو هیوادونو ته فرصت په لاس ورکړی دی، چې دغه با ایمانه ننګیالی ملت په سیمه ایزه اونړیواله سطحه خوار اوذلیل کړي، په بین المللي ټولنه کې یې بې اعتباره او معنوي مورال یې ورټیټ کړي.

کله دنړۍ له هغه سره څخه یو شمیر داسې هیوادونه چې اصلاً معنوي او انساني ارزښتونه یې دکلتور برخه نه دي، دلته په دغه با ایمانه اوپتمن ملت باندې یې سر اوپایه تورونه لګوي، په یوه اوبل نوم یې بدناموي، دخپلې خوښې دلالان او مزدوران ورته توصیه کوي، کله یې په خلاف دسیمې ځینې هیوادونه دبدنیتۍ او مرموزې دښمنۍ داسې ماشومانه پالیسي ورته غوره کوي چې په افغاني مشرانو کې یو حاجي کړي ، بل ملا او له بل څخه غل جوړ کړي او دخپلو شومو مذهبي، جغرافیایي اونژادي ګټو دترلاسه کولو دپاره په افغانانو باندې ملندې وهي، ددوی په مینځ کې دجګړې او اختلاف اوروته بلوي، او کله بیا ځینې هیوادونه د دوستۍ ترپردې لاندې ددغه باتور ، ننګیالي ، با ایمانه اومجاهد ملت په حیثیت او اعتبار باندې لوبې کوي، نه یې سکاره دوستي معلومېږي اونه دښمني ، له هر چاسره دهر چاپه مزاج برابر متنوع سیاستونه غوره کوي، نه دځان په ګټه پوهېږي اونه دافغانستان . دغه قهرمان اواتل ملت یې بې سرپرسته یتیم تصور کړی چې لوږې زده کړه اوتجربه ده په سرباندې کوي، کله وسلې ورباندې پلوي اوکله وسلې ورڅخه ټولوي.

دغه ټول هغه ترخه واقعیتونه دي، چې دافغانستان دمسلمان ملت له بې اتفاقۍ ، ځان ځانۍ ، بې ځایه غرور اودشخصي او ګوندي له ساتلو څخه سرچینه نیسي، داسلامي سپیڅلي جهاد اهداف او دنږدې ګڼو دوه میلیونو شهیدانو ارمانونه له نا امیدۍ سره مخامخ کېږي . دګران افغانستان ستر وقار اوتاریخي ویاړونه او افتخارونه تر پښو لاندې کېږي، بې پروامشرانو ځانونه د هرکس اوناکس محتاج ګرځولي دي، دوی دمسلمانانو په نسبت له ملحدانو او دخپلو په نسبت له بهرنیانو سره سازش اوپخلاینې ته ترجیح ورکوي.

داټول هغه ناوړه عادتونه او خویونه دي چې زمونږ دافغانیت او اسلامیت سره سل په سلو کې ضدیت لري. دا داسلامي او ملي غرور منافي هغه اعمال اوکارونه دي چې ددغه ملت د وقار شمله یې راټیټه کړې ده.

راځئ یوځلي اسلامي او اخلاقي جرأت وکړو په واقعیتونو باندې اعتراف وکړو، دزړه له کومې یوبل ته د ورورۍ لاسونه ورکړو، نور په ناروا اوپه زور ځانونه په دغه ملت باندې ور ونه تپو، په بې ځایه وژنو او ملي دولت اوششنې تباه کولو باندې اصرار ونه کړو له ملت څخه دګران افغانستان دبیا رغېدنې اوداسلامي اوملي ناموس دساتنې نور فرصتونه ضایع نه کړو اود طالبانو ددغه سپیڅلي اسلامي تحریك سره چې دملت د زړه آواز دی ، بې له قید اوشرطه ملګري شو، څو وکولای شو په ګډه سره له یوې خوا دبین المللي استعمار اواستکبار دسیمې شیطاني کړو اوله بلې خوا دسیمې دبدنیتو اوغیر مخلصو هیوادونو هغه شومې اوبدمرغه هڅې ورشنډې کړو چې ددغه سپیڅلي هیواد په خلاف یې پکار اچولي دي. اوپه دې توګه یوځلي بیا دګران افغانستان دبیت اوعزت بیرغ په نړۍ کې رپانده کړو اوددغه قهرمان اواتل ملت داتلالي مقام دملتونو په مینځ کې لوړ وساتو.

نجیب الله «رسولي»

اسلام وتعدد گروهی

از آنجائیکه رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) اخرین پیامبران بود . نیکوترین وبارزترین خصلت های پیامبران (علیهم الصلواة والسلام) در وجودش تجلی میکرد.

. . . . همین قوت خدا داد بود که رسالت بزرگ پیروردگار خویش را موفقانه بسر رساند. هانطوریکه همیش مردم را به توحید ویگانه پرستی دعوت می کرد. بهمان اندازه به توحید ویکانگی صفوف مسلمین توجه داشت، وبرمصداق قول خداوندی که می فرماید:
ترجمه: « وشما بهترین امتی هستید در بین مردمان که امر بمعروف ونهی ازمنکر می کنید.»

پیامبر (صلی الله علیه وسلم) همیش کوشش می کرد که این امت واحد ویکپارچه باشد و همه عوامل نژادی ، زبانی، سمتی وگروهی که باعث اختلاف وانشقاق امت می گردید آنرا رد کرد. واز همینجا بود که شالوده نی قویترین نظام عصر خویش را ریخته و بزرگترین امپراطوری های را سرنگون ساخت.

دشمنان اسلام که در زمان رسول خدا از هیچ نوع دشمنی وتفرقه افگنی دربین مسلمانان دریغ نمی کردند . وفات آنحضرت (صلی الله علیه وسلم) را بهترین چانس برای برهم زدن صفوف مسلمین پنداشتندو بدین منظور یهودی ها ومنافقین دست به دست هم دادند.

ولی از آنجائیکه خلفای راشدین (رضی الله تعالی عنهم) پیرو مخلص ومطیع پیامبر (صلی الله علیه وسلم) بودند هرنوع تلاش دشمن را در این زمینه برهم زدند. وقتی اجتماع انصار برای تعین امیر جدا گانه دایر گردید، عمر (رضی الله تعالی عنه) باتلاش جدی واضح ساخت که دو امیر برای مسلمانان گنجایش ندارد وایشان را قناعت داد تا با ابوبکر صدیق (رضی الله تعالی عنه) بیعت نمودند وبدین ترتیب وحدت بین مسلمین وعالم اسلام راحفظ شد.

همچنان علی (رضی الله تعالی عنه) وقتی حرکات منفی را از بعض کسان درباره بدگوئی بعضی صحابه احساس کرد بشدت ازآن جلوگیری نمود وتادم شهادت در وحدت عالم اسلام کوشید.

بعداز دوره خلفای راشدین اگرچه حوادث ووقایع زیادی وحدت ومرکزیت خلافت واحد اسلامی را تهدید نمود ولی در هرحال حکام وخلفای اسلامی تا آغاز قرن بیستم توانستند این وحدت را بصورت نسبی حفظ نمایند، که به همین اساس در طول این دوره طولانی دشمنان اسلام از نفوذ مستقیم در حدود بلاد اسلامی عاجز ماندند. اما همینکه خلافت عثمانی در آغاز قرن بیستم خاتمه یافت وبا پدید آمدن حکومات مستقل مرکزیت و انسجام مسلمین برهم خوردو دشمنان اسلام وخاصتاً یهودی ها به سرعت تمام درکشور های اسلامی نفوذ کرده وبانقشه های شوم خویش ماجراهائی آفریدند که تا امروز عالم اسلام دست وگریبان با آن بوده واز حل آن خود را عاجز می بینند.

وقتی عامل عمده این عجز را جستجونمائیم منشأ اصلی آنرا صرف در عدم انجام بین کشور ها وگروهائی اسلامی می یابیم.

ازآنچه بیان شد ثابت گردید که قرآن وسنت، دومصدر عمده، شریعت اسلامی هیچگاه به اختلاف وتعدد گروهی اجازه نداده وآنرا کلاً رد مینماید.

وهمچنان از جریان تاریخی که مختصراً بدان اشاره کردیم واضح گردید اینکه : وحدت باعث قوت واختلاف باعث ضعف ، بربادی وهلاکت است، پس بیائید طبق قول خداوندی که به این معنی می فرماید: « خود را در هلاکت نیاندازید » وبرای پیروان حقیقی شریعت غرای محمدی (علیه الصلواة والسلام) به این معنی دستور اکید میدهدکه «و چنگ زنید به حبل خداوتفرقه را در پیش نگیرید» عمل نمایم.

وقابل یاد آوریست اینکه : گروه های سیاسی وجهادی افغانستان با انحراف از خط اصیل جهاد، کشور را به تباهی کشاندند و می کشانند پس درچنین لحظه حساس وظیفه هر مؤمن وطن دوست ومسلمان است تادیگر بدین گروهای اجازه فعالیت ناجائز را نداده به همکاری مزید خود ها با تحریك اسلامی کشور (تحریك طالبان) ملت بیچاره مارا از شر این گروه های خود خواه وجاه طلب نجات دهند.

دملګرو ملتونو مؤسسې ته یو تنقیدي کتنه

په کشمیر باندې دهندوانو تیري

مولوي عبدالحکیم "مجاهد"

نهمه برخه

کشمیر په ۱۸٤٦م کال کې انګریزانو دیوې معاملې له مخې د دوګره مهاراجه حکومت په ولکه کې ورکړ، او کله چې داستعمار په خلاف دآزادۍ خوځښت بریالی شو او انګریزي استعمار دهند دورې وچې دآزادۍ دمبارزینو په مقابل کې بې وسه شو ، نو انګریزانو له وړې وچې څخه دخپل استعمار دپای ته رسولو په نتیجه کې داګست په ۱٤ ، ۱۹٤۷م کال دپاکستان ، او داګست په ۱٥ ۱۹٤۷م کال دهندوستان په نومونو باندې دوه آزاد اومستقل هیوادونه په رسمیت وپیژندل.

دآزادۍ پندلس دقانون داروښي مادې له مخې هلته په ٥٦۲ ریاستونوکې دبرتانیا تسلط پای ته ورسېده او ټولو ریاستونو ته داحق ورکړ شو چې اوس ددغو ریاستونو دخلکو خوښه ده چې دخپل دیني حیثیت اوجغرافیاي موقعیت په مراعات کولو سره کولای شي پاله پاکستان اویا خوله هندوستان سره یوځای شي.

دآزادۍ له دغه اعلان څخه دري ورځې وروسته دجوناګړ ، حیدرآباد اوکشمیر د ریاستونو په سر ددواړو هیوادونو ترمینځ اختلاف پیدا شو. دجوناګړاکثریت هندوان وو خو نواب یې مسلمان و، نواب غوښتل چې له پاکستان سره یو ځای شي خو هندوستان په دې دلیل چې داتباعو اکثریت یې هندوان دي، باید له هندوستان سره یوځای شي، حمله یې ورباندې وکړه او دځان یې کړ. حیدرآباد غوښتل مستقل پاتې شي له هندوستان سره یې خبرې روانې وې چې په سپتمبر ۱۹٤۸م کې هندوستان حمله ورباندې وکړه او هغه یې هم دځان کړ. دکشمیر ۸۰ په سلو کې خلك مسلمانان وو او نواب یې هندومهاراجه و. نواب غوښتل چې کشمیر له هندوستان سره یوځای کړي خو مسلمانانو دده په خلاف دازادۍ تحریك پیل کړ او دمهاراجه دګره کشمیري فوځ یې په یو شمیر سیمو کې له ماتې سره مخامخ کړ او دآزاد کشمیر په نوم یې داکتوبر په ۲٤ ۱۹٤۷م کې حکومت اعلان کړ، مهاراجه له هندوستان څخه دمرستې غوښتنه وکړه او ورته ویې لیکل چې دی غواړي کشمیر له هندوستان سره یوځای کړي. هغه وو چې هندوستان په کشمیر باندې حمله وکړه او داکتوبر په ۲۷ ۱۹٤۷م کې یې ۳/٤برخه کشمیر ترخپلې ولکې لاندې راوست.

د دواړو هیوادونو ترمینځ جګړه روانه وه چې هندوستان دجنوري په لومړۍ نېټه ، ۱۹٤۸م کې دملګرو ملتونو دامنیت شورى ته شکایت وکړ او دجنوري په ۱۷ ۱۹٤۸م کې پاکستان هم دهندوستان په خلاف خپل اعتراضونه دملګرو ملتونو دامنیت شورى ته وړاندې کړل.

دامنیت شورى ددواړو خواؤ داعتراضونو له اوریدلو نه وروسته فیصله وکړه چې دکشمیر مسئله به دې یوې ټول پوښتنې په واسطه دهغه ځای دخلکو داکثریت د رایو په بنسټ غوځول کیږي چې دکشمیر خلك له هندوستان سره او که له پاکستان سره یوځای کیدل غواړي. دامنیت شورى ددې کار دپاره یو کمیسیون هم وټاکه څو په سیمه کې امنیت تأمین او دټول پوښتنې دپاره ترتیبات ونیسي. کمیسیون دجولای په ۲۷ ۱۹٤۹م کال کې د دواړو هیوادونو ترمینځ د مشارکې کرښه وټاکله او دمارچ په میاشت ، ۱۹٤۹م کې یې دواړه هیوادونه په دې سلا کړل، چې خپل خپل فوځونه به له کشمیر څخه وباسي ، خو هندوستان په یوه اوبله بهانه دفوځونو له ایستلو څخه انکار وکړ.

په دسامبر ۱۹٤۹م کې دامنیت دشورى مشر جنرال میکناټن له کشمیر څخه دفوځونو دایستلو یو لړ وړاندېزونه وړاندې کړل، چې پاکستان ومنل او هندوستان انکار وکړ، اوبیا میکناټن په مارچ ۱۹٥۰م کې سرادون دکسن خپل نماینده وټاکه خودغوځونو دانحلال په هکله دواړه هیوادونه په یو لړ تجویزونو باندې سره موافق کړي، بیا پاکستان ومنله او هندوستان انکار وکړ په دې توګه ملګرو ملتونو ونکړای شول چې دکشمیر په مسئله کې یوفعال رول تر سره کړي، همدا راز دملګرو ملتونو یو بل نماینده « فرینك ګراهم» دمارچ د ۳۰ او دسامبر د ۲۲ ، ۱۹٥۱م ترمینځ له کشمیر څخه دغوځونو دایستلو په اړوند یو لړ وړاندېزونه وکړل چې پاکستان موافق او هندوستان مخالف و.

په دسامبر ۱۹٥۲م کې دامنیت شورى یوه بله مصوبه تصویب کړه چې له کشمیر څخه دې دواړو هیوادونو غوځونه ووزي، دمشارکې دکرښې پاکستاني خواته دې له دریو نه تر شپږ زره پورې فوځ موجود وي او دهندوستان خواته دې له دولسو نه تر شپاړسو زرو پورې فوځ پاتې شي، داهم پاکستان ومنله او هندوستان انکار وکړ.

دمارچ په ۲۹ ۱۹٥٦م کال کې دهندوستان صدراعظم پنډت جواهر لال نهرو په ولسي جرګه کې دیوې بیانیې په ترڅ کې اعلان وکړ چې دمهاراجه دغوښتنې په اساس له هندوستان سره دکشمیر یوځای کېدل قانوني دي، ددغې وینا په خلاف پاکستان په نوامبر ۱۹٥٦م کې یوځلې بیا دملګرو ملتونو دامنیت شورى دغونډې دجوړولو غوښتنه وکړه، چې دامنیت شورى په دې اړوند له ۱۷جنوري نه تر ۲۱ فبروري ۱۹٥۷م پورې بحث وکړ او دوه مصوبې یې تصویب کړې، په لومړۍ مصوبه کې یې دغه سیمه غیر فوځي سیمه وبلله ، اوپه دوهمه کې یې په جمو اوکشمیر کې د ټول پوښتنې بیا غوښتنه وکړه ، چې روسانو ددغو مصوبو په خلاف خپله د ویټو (VETO) وسله استعمال کړه.

مسئله دامنیت دشورى دغونډې د جوړولو غوښتنه وکړه ، په غونډه کې په یوه مصوبه باندې غور وشو چې داځلې هم هغه روسانو ویټو کړه. ایوب خان غوښتل چې له هندوستان سره دخبرو له لارې دغه شخړه هواره کړي ، هغه وو چې ددسامبر له ۲۷ ، نه دمئي تر ۱۷ ۱۹٦۳م پورې یې یوبل سره خبري وکړې ، په خبروکې هندوستان دکشمیر دتقسیم فارمولا وړاندې کړه اوپه جمو اوکشمیر کې یې له ټول پوښتنې څخه انکار وکړ، پاکستان دتقسیم فارمولا رده کړه، اوپه ټول پوښتنه یې اصرار وکړ.

داګست په ۸، ۱۹٦٥م کال کې دکشمیر مجاهدینو یو راډیو یې سټیشن نصب کړ اوله هغه څخه یې دهندوستان پر خلاف جهاد اعلان کړ اوملګرو ملتونو ته یې په یوه بیان کې وویل چې:
الف: ملګرو ملتونو په کشمیر کې دټول پوښتنې په هکله هیڅ نه دي کړي.
ب: ملګرو ملتونو دهندوستان ددغه اقدام په خلاف چې کشمیر یې له ځانه سره ضم کړ څه وکړل!
ج: ملګرو ملتونو په زرهاو بې ګناه کشمیریانو دژغورنې لپاره څه کړي دي؟
د: ملګري ملتونه دکشمیر دمسئلې دحل په لړ کې له منافقت څخه کار اخلي او د۱۷کالونو په دوران کې یې نه په کشمیریانو باندې دهندوانو ظلم بند کړ اونه خویې دوی ته خپل حق ورکړ، اوس خونو مجبور یو چې خپل حق په خپله ترلاسه کړو. له دې نه وروسته یې عملیات پیل کړل اوپه لږ وخت کې یې دکشمیر مهمې سیمې په خپله ولکه کې راوستلې.

داګست په ۱٤ ۱۹٦٥م کې هندوستان له مجاهدینو څخه دخپلو ماتو دانتقام اخستلو په منظور دکشمیري مسلمانانو عامه وژنه پیل کړه او دري سوه کورونه یې وسوځول، او ورپسې یې پاکستان ته دجګړې اخطارونه ورکړل. داګست په ۱۹ ۱۹٦٥م پاکستاني وزیر خارجه بوتو په ځواب کې هندوستان ته اخطار ورکړ او ورته ویې ویل چې جمو اوکشمیر دپاکستان برخه ده هندوستان یې په زور نشي خولی.

داګست په ۲٤ ۱۹٦٥م کال هندوستان دپاکستان په سرحدي سیمه رغوان شریف باندې حمله وکړه اوبیایې د سپتمبر په ٦ ۱۹٦٥م کال کې لاپاره په لاهور برغل وکړ چې دسپتامبر تر ۲۲ پورې سخته جګړه روانه وه.

په ۱۹٦٥م کال کې کله چې دهندوستان او پاکستان جګړه پای ته ورسېده روسانو دواړو خواوو ته بلنه ورکړه چې دجنوري په ٤ ۱۹٦٦م کال کې دې دواړه دتاشکند په ښارکې غونډه جوړه کړي چې د روسیې صدراعظم کاسګین به هم په غونډه کې برخه اخلي. غونډې په ټاکلي تاریخ پیل شوه چې دجنوري په ۱۰، د دواړو هیوادونو ترمنځ په یوه ۱۰تکاني تړون باندې موافقه وشوه. دغه تړون دتاشکند دتړون په نوم یادېږي، په دغه تړون کې دواړوخواوو ومنله چې دکشمیر مسئله به د مذاکراتو له لارې هواروي او دځواک له استعمال څخه به ډډه کوي.

په ۱۹۷۱م کال کې یوځلې بیا دهندوستان او پاکستان ترمنځ سخته جګړه راښتکه شوه چې پاکستان دکشمیر یوځه برخه ترخپلې ولکې لاندې راوسته. دکشمیر په مسئله باندې دیو څه ځنډ نه وروسته په ۱۹۷۲م کال کې دپاکستان او هندوستان ترمنځ دشملې تړون لاسلیک شو او دواړو هیوادونو موافقه وکړه چې دکشمیر مسئله به د زور په ځای د خبرو اترو په ذریعه غوځوي. له دې نه وروسته دکشمیر دمسئلې دحل په اړوند دملګرو ملتونو له خوا کوم خاص ګام نه دی اخستل شوی.

په ۱۹۹۰م کال کې دملګرو ملتونو عمومي منشي په یوه بیان کې وویل چې د دوؤ هیوادونو تر منځ هیڅ ډول تړون دبین المللي قانون له مخې دامنیت دشورى مصوبه ئې منسوخ کړلې، اوپه ۱۹۹۳م، کې عمومي منشي بطروس غالي وویل: دواړو خواؤ ته مې په وار وار ویلي دي چې ددغې مشکلې اوپېچلې شخړې په هکله باید یو سوله ایز حل رامینځ ته کړي.

له ملګرو ملتونو څخه دکشمیر دمسئلې دحذف کړلو هڅه:

دجولای په ۳۰ ۱۹۹٦م، کال کې دملګرو ملتونو دامنیت شورى دیوې خفیه غونډې په ترڅ کې نږدې دوه پنځوس داسې شخړې او مسئلې دخپل بحث له اجندا څخه واېستلې چې په تېرو پنځوکالونو کې په هغو باندې په شورى کې بحث نه و شوی، چې په دې لیست کې دکشمیر په مسئله برسېره دفلسطین ،قبرس، لېبو مسئلې هم شاملې دي. پاکستان دکشمیر په هکله د امنیت دشورى ددغه اقدام په خلاف سخت احتجاج وکړ او په نتیجه کې وعده ورکړ شوه چې دسپتامبر په ۱٦ به دامنیت شورى په دغه مسئله باندې یوځلې بیا غور وکړي ، که داځلې هم دامنیت شورى ددغې مسئلې دحذف کولو فیصله وکړي نو دکشمیر مسئله به په بشپړه توګه دملګرو ملتونو له ساحې څخه ووزي.

دجمو اوکشمیر دویشلو هندي پلان :

داګست په ۲۷ ۱۹۹٦م کال کې دهندوستان دکورنیو چارو وزیر « اندرجیت ګپتا» له بي بي سي سره په یوه مرکه کې وویل چې دهندوستان حکومت دکشمیر دمسئلې دحل په لړ کې په څو ټوټو باندې فکر کوي، چې په هغو کې یو پلان دا دی: چې کشمیر درې سیمې دي:
۱- دجمو سیمه چیرته چې هندوان اکثریت دی.
۲- ولداخ سیمه چیرته چې بودایان اکثریت دی ،
او۳- د وادي برخه چیرته چې دمسلمانانو اکثریت دی ، په دې کې به دلداخ سیمه نیغ په نیغه د مرکز ترکنټرول لاندې اداره کېږي.

په کشمیر کې دهندوانو ظلمونه:

نږدې پنځوس کاله کېږي چې دکشمیر مسلمانان یوازې په دې جرم باندې وژل کېږي، ځورول کېږي، بې عفته کېږي او بې کوره کېږي چې دوی په خپله (۸٥۷۰۰)مربع میله ځمکه باندې د۱۳ میلیونو نفوسو دپاره چې ۸۰ په سلو کې نفوس یې مسلمانان تشکیلوي، ځانګړی هیواد غواړي او یاله اسلامي هیواد پاکستان سره یوځای کېږي.

دجمو اوکشمیر، په ملګرو ملتونو کې دشاملو هیوادونو د(۱۱٤) غړو هیوادونو په نسبت یې دابادۍ په لحاظ دنفوسو شمېره زیات دی، خو دملګرو ملتونو د بې التفاتۍ اوکم توجهۍ له کبله دهندي استعمار په ظالمو منګولو کې ګیر دي، چې دمالي ارګانې تلفاتو ارقام تر اوسه شمېره یې په لاندې ډول ده:
۱- په پنځو ستر ګو دي اپښتساره وزو له کبله دشهیدانو شمیره (۳۹ ٥۰۰) ته ده.
۲- دهندوانو په لاسونو ژوندي سوځول شوي شهیدان (۳٥۸۰) ته دي .
۳- په بندیخانو کې دتعذیبونو اوشکنجولو کبله د وژل شویو تعداد (۲۰۰۰)ته ده.
٤- چې لاس اوپښې یې ورباندې ترل شوي او ژوندي دریاب ته غورزول شوي (۲۸۷) ته دي.
٥- د اوربند یا مشارکې دکرښې ته دتیرېدلو په وخت دهندي فوځیانو له خوا دویشتل شوو شهیدانو شمیره (۱۷۰۰) ته ده .
٦- دبشیره معیوبینو چې دژوند له کار ولږلي دي شمیره یې (٥٥۸) ته ده.
۷- دهندي ظلمونو څخه ازاد کشمیر ته دراغلو مهاجرینو تعداد (۱٥ ۲۰۰) ته ده .
۸- دګرفتاریو له ویرې دپټو شوو کسانو شمیره (.... ۳٥) ته ده.
۹- دهغو معصومو ماشومانو شمیره چې لاس اوپښې یې پرې شوي دي. (۲۲٥) ته ده .
۱۰- په بندیخانو کې دځنځیر شولاته ځلمیانو شمیره .... ۱٥ ته
۱۱- هغه میرمنې او سړي چې یې له دوسې په بندیخانو کې دي .... ۳۷ته دي.
۱۲- روغتونونه او ښوونځي چې په بمونو یې الوزولي دي (۱۹٦) بابه دي.
۱۳- هغه کورونه چې سوځولي او ابری کړي یې دي (.... ۱۱) بابه دي
۱٤- دوکانونه چې سوځولي یې دي (۳۹٥۰) بابه دي .
۱٥- تعلیمي اداري چې بندې کړي یې دي (٤۹۰) بابه دي.
۱٦- خبري مؤسسې چې بندې کړي یې دي (۲) اورګانه دي.
۱۷- ورځپاڼې چې بندې کړي یې دي. (۲) پاڼې دي.
په دې برسېره به سلهاوو میرمنې بې عفته شوي، په سلهاوو غائبې شوي، مسجدونه اوجوماتونه مقدس ځایونه بې حرمته شوي اوتباه شوي دي.

دملګرو ملتونو بې غوري:

دملګرو ملتونو مؤسسې په تیرو ٤۹ کالونو کې دکشمیر دکشالې دحل په اړوند له څوکاغذي تجویزونو او نمایشي فعالیتونو نه پرته بل هیڅ کارنه دی کړی، دهندوستان او پاکستان ترمنځ د مشارکې دکرښې دڅارنې په نوم یې یو شمېر فوځي څارونکي په کشمیر کې ځیره کړي دي، چې د ریپوټونو له لیکلو پرته بل هیڅ داد اوصلاحیت نه لري. دکشمیر خلك هره ورځ دهندي استعمار په اورکې سوځول کېږي خوملګرو ملتونو ته دا چې ددوی په حال باندې رحم نه دی کړی اودکشالې د حل دپاره یې عملي ګامونه نه دي اخستي ، بلکې برعکس یې هڅه کړې ده، چې دکشمیر مسئله دتل دپاره له خپلې حافظې څخه وباسي. چې دا کار په حقیقت کې دملګرو ملتونو له منشور څخه بشپړ انحراف دی، ملګرو ملتونو ته پکار دي چې په خپلو کړو وړو باندې غور وکړي اوځانونه داستعماري ځواکونو له کنټرول څخه راوباسي، په نړۍ کې دسولې ،امنیت اوبشري حقونو دتأمین دپاره دخپل منشور(Charter) له روحیې سره سم کار وکړي.

خوځښتونه او ازمېښتونه

دیوې ټولنې مخلص، زړه سواندي اواحساس لرونکي خلك هغه وخت دیوخوځښت اړتیا احساسوي کله چې په دې اجتماع کې ظلم، تېری، ناروا او داړه ماري خپلې پنجې ښخې کړي، دانسانانو وژل، ربړول، ځکول، لوټول اوسپکول حلال وګڼل شي، دټولنې ملي ارزښتونه له ګواښ او تهدید سره مخامخ شي، انسانان دتشریع حق خپل وګڼي، دحلالولو اوحرامولو صلاحیت ځانته ورکړي، ځانونه دعبودیت مستحق وبولي، دټولنې د افرادو دسرونو اومالونو اختیار ځانته ورکړي اوبلاخره څو کسه محدود افراد په ټولنه هر اړخیز حاکمیت ترلاسه کړي اوخپل اختیارات اوقدرت دخلکو د ربړولو لپاره پکار راوړي. پورتني اسباب ددې باعث ګرځي چې دټولنې مسئوله طبقه خپله حوصله له لاسه ورکړي، زغم ئې ختم شي او دیو ملي پاڅون په لټه کې شي.

له دې حقیقت څخه به هېڅوك انکاري نوي چې اکثره داسې ملي پاڅونونه د ټولنې دمخلصې طبقې لخوا صورت نیسي او دریم سوي په نتیجه کې مخ ته راځي. خو کله ناکله دغه نتائج غیر مطلوب وي، له نفع څخه یې ضرر زیات وي، او دا هغه کېږي چې دغه ټول پاڅونونه خپل اصل مسیر بدل کړي. الهي احکام هېر کړای شي. له ټاکلو اهدافو سرغړونه وشي. فروعات او ثانوي شیانو ته لومړیتوب ورکړی شي او...

مطلب دا چې په یوه ټولنه کې خوځښت او تحرک د مذهبي، سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او اخلاقي ناوړو دمقابلې لپاره راپورته کېږي اودا چې دغسې یوعمل له دټولنې دافرادو سخت ضرورت وي نو همدا سبب دي چې هغه دټولو خلکو اویادګڼ شمېر افرادو دتائید او مرستې څخه برخمن وي اوترهغې پورې دپرمختګ اوارتقاء په حال کې وي ترڅو چې دخپلو شعایرو په سپوري کې په وړاندې دروسي.

دپرمختیا او اوج په حال کې خوځښتونه له ډېرو لوړو ژورو سره مخ کېږي، ډېر ازمویښتونه او ابتلاوې تېروي. له ډېرو ستونزو اوکړاوونو سره لاس اوګریوان وي، او دېار اومحنت څخه ډك امتحانونه ورکوي. مګر نیکبخته خوځښتونه هغه وي چې له دغو ازمویښتونو بریالي ووځي او دخپل اخري هدف په لوریه مېړانه مخ په وړاندې ولاړشي. چې داسلام اوافغانستان دناجي خوځښت دطالبانو اسلامي تحریك هم په دې توګه په هیواد کې دناوړو دمقابلې ته راپاڅېدلی اود غیر اسلامي اعمالو او نامطلوبو عناصرو دمقابلې الفزنه لارتې نیولې چې په دې لارکې دا تحریك لکه دنورو غونډې له ازمویښتونو سره مخامخ دی اولکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي:
« مؤمن له پنځو سختیو سره مخ کېدونکی دی. مؤمن به ورسره حسد کوي، منافق به ورسره بغض اوکینه لري، کافر به ورسره جګړې کوي، شیطان به ئې بې لارې کوي اونفس به ئې ورسره په منازعې اومبارزې بوخت وي»

په همدې توګه به دغه اسلامي تحریك چې دټولنیزو او فردي اصلاحاتو اراده ئې کړې دداسې ستونزو اوکړاوونو سره مخ کېدونکي وي اوهلته به دغه اسلامي تحریك د بریالیتوب پړاوته رسېږي چې له دغه ستونزمنو ازمویښتونو بریالي ووځي.

د طالبانو داسلامي تحریك چټك پرمختګ ټول خلك په حیرت کې غورزولي او اسلامي تحریك ئې دسترو سترو امتحانونو په ډګر کې ورننه کړي دي، نو اوس دا حسي دی چې دا اسلامي تحریك به دابتلا، په ډګر کې ازمویل کېږي، له کړاوونو اوسختیو سره به مخ کېږي ځکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم وینا ده چې « له ټولو خلکو څخه انبیا، په لوی امتحان کې وي بیا وروسته هغه چې خلك اوورپسې نه ، اوبه همداډول»

بیا فرمائي: « کله چې خدای (جل جلاله) کوم قوم غوره کړي نوله ازمویښت سره ئې مل کړي که پرې خوښ شي نو خدای ورڅخه خوښ وي او که پرې په غصه شي نو خدای (جل جلاله) ورته په غصه کېږي.»

بنا، وطالبانو اسلامي تحریك هم دازمویښتونو په ډګر کې دی اوهر کله چې ددغه ډګر اوږد منزل په بریالیتوب سره پای ته ورسوي، هلته به دخپل رنځېدلي ولس دردونه دوا کړي، پرهرونه به ئې پټې کړي، کړاوونه به ئې ورسم کړي اودستونزو ډك ژوند به ئې په خوښۍ اوسوکالۍ بدل کړي.

سترمادي قوت پیدا کول، دبې شمېره امکاناتو لاسته راوړل، په پراخو ساحو کنټرول حاصلول، په رقیبانو د لویو لویو بریالیتوبونو ترلاسه کول او... ټول هغه څه دي چې دمسلمان لپاره ازمویښت او ابتلاء ګڼل کېږي، پس مسلمان باید هیڅکله په هغې مغرور نشي، هغه دچا د ځورولو لپاره په کار رانه وړي، خپل عالي اهداف له یاده ونه باسي او...

د طالبانو اسلامي غورځنګ هم نن په دې ازمون کې دی اوزمونږ ولس داهیله لري چې دا اسلامي او اصلاحي تحریك به دازمون دغه مرحلې په بریالیتوب سرته رسوي اودخپل کړېدلي ولس ارمانونه به پوره کړي.

دا دکتاب حکم دی چې کوم امام یا پاچا په کوم ملك کې...

په دې کتنه کې د ولایت دسیاسي اونظامي چارو په اړه ګټورې خبرې وشوې او دحالاتو جاج واخیستل شو.

همدارنګه محترم ملا محمد حسن اخند په خوست کې دغه ولایت له قامي مشرانو سره وکتل او دخوست په سیاسي حالاتو خبرې وشوې.

په دې کتنه کې دخوست قامي مشرانو محترم ملامحمد حسن اخند ته دهرډول مرستې اوهمکارۍ وعده ورکړه اوپه دغه ولایت کې یې دطالبانو دا سلامي تحریك اداري او عمراني چارې مثبتې ارزیابي کړې.

خبریال زیاتوي چې وروسته محترم ملا محمد حسن اخند دطالبانو له یو شمېر قوماندانانو لکه محترم ملا بورجان ، حاجي عبداله ارامتیه قوماندانان ملا عبدالمتین اخند سره هم وکتل اوپه سیمه کې دنظامي اوسیاسي حالاتو په اړه یې ګټورې خبرې ورسره وکړې.

خبریال وایي چې په خوست کې دخپلې استوګنې په وخت محترم ملا محمد حسن اخند دخوست په جامع جوماتونو کې یوې درندې غونډې ته په خطاب کې وویل: ګرانو محترمو استادانو، قامي مشرانو اوټولو ورونو له سلام نه وروسته زما عرض دادی چې له کندهار څخه د راغلي یوه میلمه په توګه ،ما خبرونه غوږ ونیسی اوپه غوږ سره یې واوري.

ده وویل: لوی خدای «جل جلاله» انسان دیو مقصد لپاره پیدا کړی دی ، په دې باب خدای «جل جلاله» پخپله فرمایي :« ما نه دي پیداکړي انسانان اوپیریان مګر دعبادت لپاره» . کله چې انسانان پیداشول اوله خپل خدای «جل جلاله» سره یې وعده وکړه چې مونږ ستا مخلوق یو، څه چې ته وایې مونږ یې منو. دوخت په تیریدو سره الله «جل جلاله» رسولان راواستول ترڅوانسانانو ته ووایي چې پخپله هغه وعده وفا وکړي چې له خپل خدای «جل جلاله» سره مو کړې ده، تر هغوی وروسته یې عالمان رالیږلي دي ترڅو انسانانو ته خپلې وعدې وریادې کړي.

ده وویل: په دې وطن کې چې کوم جهاد شوی دی هغه دیوه خاص هدف لپاره و، نو دلوی خدای «جل جلاله» په حضور کې سوال کوو چې له مونږ څخه دې دغه سعیه او کوښښ قبول کړي، الله دې معیوبینو ته کامل عوض ورکړي، یولو کونډو او یتیمانو ته دې په دواړو جهانو ښه بدله ورکړي، داچې ددې ملك په لکونو انسانان قرباني شول نو زمونږ دهیوادوالو دا تمه وه چې په دې هیواد کې به اسلامي نظام ټینګ شي، خو متأسفانه څینو لیډرانو ددې پر ځای چې دښمنانو پر سر لاس لیږ کړي، دکمونیزو اوبکي وړیاکې کړې داسې ناسته عملونه یې پیل کړل چې ټول افغانان په چیغو ارادرو سرشول.

ده وویل: بیا هم ددې هیواد پر خلکو خدای «جل جلاله» ورحمیدو او دسپین پوځ تحریك یې راپورته کړ، داهم دیوه مقصد اوغرض لپاره. اوس زمونږ هیله دا ده چې خدای «جل جلاله» دې په دې هیواد کې الهي نظام نافذ کړي. الله «جل جلاله» په هر چا امتحان کوي اوګوري یې چې دحالت په تغییر سره څه کوي نومونږ له ټولو مسلمانانو څخه داخواهش کوو چې ټول یو موټي شي او دوی باید په دې پوه شي چې مونږ ته دوی څخه څه غواړي او دوی باید له مونږ نه څه وغواړي.

ده وویل: دا دکتاب حکم دی چې کوم امام یا پاچا په کوم ملك کې امن راولي دخلکو حقوق محفوظ کړي نو پر هغو خلکو لازمه ده چې په شرعي امورو کې دهغه اطاعت وکړي ، له تاسو څخه زما هیله داده چې اول په ځان اوبیا پخپل کور کې شرعي نظام راولي.

ده وویل دطالبانو اسلامي تحریك چې تر اوسه پورې ٥۰۰۰ ته شهیدان ورکړي دي دهمدغه مقصد لپاره دي اوهدف یې دادی چې په دې هیواد کې به اسلامي نظام راولي، نو زه دوعا کوم چې خدای «جل جلاله» دې مونږ ته دغه کار دکولو توفیق راکړي چې هغه پاك ذات «جل جلاله» پرې خوشحالیږي اوله هغه کارنه دې خدای «جل جلاله» وژغوري چې دده «جل جلاله» دخپګان سبب ګرځي.

خبریال زیاتوي چې له محترم مولوي محمد حسن اخند سره په دې سفر کې دغه کسان هم ملګري وو: دګمرکاتو عمومي رئیس الحاج ملا حاجي محمد اخند، داکمالاتو دکمپیون رئیس الحاج ملا یارمحمد، دعشر اوزکات عمومي رئیس ملا حمید الله اخند ، دفوایدعامې رئیس حاجي ملا عشیق الله اخند د دتولسوالۍ حاجي ملا عبدالهادي اخند او دخوست دګمرك مرستیال قاري رحمت الله پاچا دوی په غزني، پکتیا ،ګردېز اوخوست کې ددغو ولایتونو اداري چارې هم وکتلې او دمامورینو له سره اجراتو څخه یې منته وکړه.

هیئت په پکتیا اوپکتیکا کې یو ترتیبي سیمینار هم جوړ کړ، ددغو سمینارونو دپرانستلو په غونډو کې محترم ملا محمد حسن اخند ددغو سیمینارونو د اهمیت په باب ګټورې خبرې وکړې اوله خلکو څخه یې وغوښتل چې خپلو دیني اوملي وجیبو ته متوجه اوسي.

خدمات دینی واجتماعي علماء در تاریخ معاصر کشور

علماء وجامعه، روحانیت کشور محافظین وسپاهیان مرحدات جغرافیایی ونظریاتی کشور اند

قلعه جوادی

قسمت هفده هم

متارکه ئی نابهنگام مرکز

جنگ سوم افغان – انگلیس که باعدم هیچ نوع مطابقت ، مشابهت ومسائلت نظامی ومادی که میان نیروهای انگریز وافغان موجود بود در همه جبهات سه گانه جنگ به نفع کلي وهمه جانبه مجاهدین افغان ادارمه داشت، تنها در جبهه شرق (خیبر) نیروهای دولتی قدری ناتوان گردیدند آنهم روي اشتباه قومندان دولتی جنگ (سلطان محمدخان) بود که خود سرانه داخل معرکه گردید در صورت عدم متارکه جنگ یقیناً داخل شدن نیروهای وسیع ملی در این جبهه نتیجه جنگ را در جبهه شرق هم همچون سایر جبهات بنفع کلی طرف افغان مبدل مباخت.

در جبهه قندهار : مجاهدین در این جبهه، خط تحصیلی دیورند را عبور کردند واستحکامات نظامی دشمن را در فاصله های بعیدی آنطرف دیورند تحت تهدید قرار دادند . جبهه جنوبی: در این جبهه سخت ترین تلفات وشکست را دشمن متحمل گردید . مجاهدین مواضع واستحکامات مهم واستراتژیك انگریز را یکی بعد دیگري فتح کردند وبا شور وشغف فوق العاده ایمانی وملی خود همچون سیل خروشان دشمن را مغلوب ومقهور خودمیگردانیدند در محاذات سه گانه جنوبی حالات جنگ از این قرار بود:

در محاذ وزیرستان: در این محاذ هزار ها مجاهد وجنگ جوی ملی قوم وزیری وسایر اقوام به قیادت قاید بزرگ جامعه روحانیت کشور حضرت نورالمشایخ مجددی «رح» وقوماندان دولتی جنگ (شاه ولی خان) سرتاسر محاذ وزیرستانرا زیرپای دشمن انگریزی به مجمری از آتش مبدل گردانیده بودند . تمام مخابرات دشمن را در این محاذ به جزء از مخابره رادیوی آن ازبین برده ،قلعه های عسکری واستحکامات جنگی انگریز ها یکی بعداز دیگری توسط مجاهدین تخریب ویاتصرف میگردید حیوانات ،اذوقه ومواد لوژستیکی دشمن به غنیمت مجاهدین قرار میگرفت.

هزار ها تن از ملیشه های مسلمان افغان که در صفوف دشمن مصروف خدمت بودند، همه علیه دشمن بغاوت وقیام کردند ودر صف جهاد ومجاهدین قرار گرفتند واز عقب جبهه بردشمن شمشیر کشیدند قلعه های مستحکم نظامی انگلیس(سپین وام ووانا) تحت محاصره نیروهای مجاهدین ملی در اسد وبه تاریخ ۲٤ مئ قلعـه های بزرگ وپراهمیت نظامی دشمن (واناوسروکی) از طرف مجاهدین فتح شد ودر سرتاسر محاذ

وزیرستان دشمن به شکست مواجه گردید ودر ۲۵ می لشکر دشمن به عقب نشینی مجبور گردید. ودر ۲۶ می مراکز عسکری انگریز در توچی مورد حمله مجاهدین قرار گرفت. اردو ونیروهای بی ایمان دشمن روحیات ومورال خود را از دست داده بودند ودر صفوف آنها روحیه مقاومت وایستادگی دیده نمیشود. زیرا انگلیس استعمارجو خود را در مقابل قیام عظیمی مردم مسلمان افغان وتمام سرحدات آزاد افغانی مواجه میدید. تاآخر می تهانه های جنگی قوای انگریز در شمال وزیرستان چون وته خیل ، شپانه، خیسوره وتوت نری را مجاهدین تصرف کرده بودند. وقشله های عسکری ، هنگو ومیرانشاه تحت محاصره مجاهدین قرار داشتند وانگلیسها چون عدم وفاء داری ملیشه های محلی وقومی را باخود مشاهده کردند. لذا تمام ملیشه هاي محلی را منحل اعلان کردند. ونیروهای انگلیس مقیم وزیرستان قلعه های وانه، توچی وگومل را تخلیه کرده وبه استقامت ژوب چهل میل فرار کردند ودر پایگاه مخه کوت ،ژوب موضع گرفتند. ولی مخه کوت به سرعت از طرف مجاهدین تحت محاصره قرار گرفت وقوای انگلیسی به استقامت منطقه سندیمان راه فرار را پیش گرفتند وشصت میل پیش رفتند. و... انگریزی ها تاتفر اخیر از دم تیغ مجاهدین گذشتند.

جبهه وزیرستان در حالیکه پیروزی بزرگی را علیه دشمن نصیب گردیده بود ودر صدد بیش رفت بطرف شرق بود . ناگهان صدای متارکه جنگ را از طرف کابل دریافتند واین صدای بیجاوبی مورد کابل همچون آب حیاتی بود که به دهن نیروهای در حال احتضارانگریز ریخته شد ومجاهدین را سخت پریشان خاطر ومغموم گردانید.

محاذ پیوار: در این محاذ که طول جبهه تقریباً یازده میل نشان داده شده است یك قطعه خیلی کوچك دولتی که با دو تولی دیگری تقویه گردیده بود این نیروی کوچك صرف میتوانستند در صورت مقاومت یادشمن خود را فدا نمایند وبس دیگری کار ازدستشان به تنهائی پوره نبود .اما قوای بزرگ مجاهدین ملی که از مردم احمدزائی، طوطاخیل ، میرزکه، منگل، جاجی، احمد خیل ... ترکیب یافته بودند که سلاح ، مهمات یعنی تسلیحات وتجهیزات ومواد لوژستیکی را هم خود اوشان تهیه وتدارك دیده بودند که این قوای عظیم ملی با نیروی ایمانی وعشق میهنی خویش فقط در طرف یك روز تمام نیروي دشمن را تباه ومواضع واستحکامات آنرا به تصرف خویش درآوردند. وپیش روی زیادی آنطرف خط دیورند داشتند وباداشتن همچون جذبه وعشق ومحبت به دین ووطن که در نتیجه

پیروزی قاطع در اولین مصاف با دشمن خیلی تشجیع وقوی گردیده بود ادامه جنگ درصدی صد بنفع طرف افغان وضرر قاطع طرف انگلیس بود که آتش فروزان این معرکه حق علیه باطل با بانگ نابه هنگام متارکه مرکز (کابل) به سردی گراید وشدید ترین ضربه یی را بر احساسات خروشان مجاهدین وارد آورد.

محاذ تل: در این محاذ که قوماندان دولتی جنگ نادرخان بود ، وجود ذی جود رهنمای بزرگ روحانی وتدبیر رساء وصایب آن جناب (حضرت شمس المشایخ صاحب «رح») نقش اساسی وتعیین کننده دراین جبهه داشت، مجاهدین ملی که از مردم خوست ، وزیری وسایر اقوام جنوبی کشور تشکیل یافته بود به معیت قوای دولتی به تل رسیده وبلاوقفه نقاط حاکم وقصبات تل را تصرف ودر ۲۸ می باوجود آتش زمینی وهوایی دشمن خود رابه قلعه مهم جنگی تل رسانیده وبقیت الجیش انگریزی ازاین قلعه فرار کردند وقلعه را مجاهدین به تصرف خود درآوردند. درنتیجه همین شکست فجیع قوای انگریزی بود که قوماندان مرکزی اعلی انگلیس قوماندان فراری وشکست خورده خود را (جنرال اوستاس را) معزول وبه هند احضار کرد وبه جای آن جنرال دایرتوخیف گردید.

مجاهدین فاتح وتشجیع شده افغانی بافتح ودر دست داشتن قلعه مهم جنگی تل، کوهات وپشاور را به تهدیدی مواجه گردانیده بودند ومیتوانستن با یك حرکت جناحی خود را به پشاور رسانیده وقوا واستحکامات نظامی انگریز را در دره خیبر ... اما چنین نشد. زیرا زمامدار ... که از همان تبار انگریز مآب بود ...ای نابه هنگام متارکه جنگ آب سردی برآتش فروزان احساسات دینی وملی مجاهدین این جبهه همچون سایر جبهات غرور آفرین جهاد ومقاومت ریخت . همه باشنیدن این صدای بزدلانه وخود سرانه مرکز ، مات ومبهوت ماندند وبرآن نفرین فرستادند.

متارکه ۳ جون ۱۹۱۹م بهیچ صورت نمودار اراده دینی وملی ملت مسلمان ومجاهد افغان نبود ودر آن هیچ نوع اراده ومشوره ئی زعماء، آمرین وقوماندانان جهاد ونیرد جبهات جنگ دخیل نبود حتی رهبران ملی ،ودولتی جهاد مرکز را از این اقدام نابه هنگام وخود سرانه اش کتبا ملامت کرده ومخالفت خود را اظهار داشتند که متأسفانه مورد توجه وقبول مرکز قرار نگرفت.

این متارکه تراوشی از ذهن وابتکار شخصی شاه و دیکته حلقه های مرموزی متنفذی بود که به هیچ صورت مشوره واراده ملت مجاهد در آن دخیل نبود.

یوه په زړه پوري واقعي قصه

دمنګل رالیږنه

کله چې حضرت عمر فاروق «رض» دخپل یوه والي دمقرري فرمان لاسلیك کړ، یوکوچنی راغی دهغه په غیږ کی کیناست اوهغه جناب ډیر نوازش ورکړ او په پرله پسې ډول ئی دهغه سر اومخ ښکلاوه . والي چې هلته په حضور کی ناست و دغی وضعې په لیدلو حیران او وئی ویل: « ای امیر المؤمنینه تاسې دغه کوچنی ښکلوی. په داسې حال کی چې زه لس زامن لرم دهغوي یوه ته می هم دومره نوازش ندی ورکړی اونه په دغه راز دلګرمې راغلی اوپه غیږ کی راته ناست دی.»

حضرت عمر فاروق «رض» وفرمایل:« زما ګناه څه ده چې خدای رحم اوعاطفه ستا له زړه څخه ایستلی ده . خدای خپل هغه بنده ګان چې درحم اوعاطفې خاوندان وی درحم لاندی نیسي» وروسته یې امر وکړ چې «دنوموړی والي فرمان څیری کړئ.» اوپه دغه حال کی ئی وویل:« دی چې په خپل اولاد رحم نلري په رعیت به څنګه رحم ولري.»

یوه لنډه واقعي قصه

وایې چې کله دحضرت خالد بن ولید «رض» عمر آخر او دمرګ شیبې ئی نږدې شوی ویل ئی: « داسې ورځ وه چې ۹ توری می په وار سره په لاس نیولی او په جګړه کی ماتی کړی، پرته له یمنی توری څخه چې زما په لاس کی باقی پاتی شوه.» اوویل ئی : « مادسلو څخه په زیاتو جګړو کی ګډون درلود او زما په بدن کی دیوه نوك په اندازه داسې ځای نه پیدا کیږی چې په هغه کی دتوری ، غشی یا نیزې پرهار نه وی.». خوافسوس دی چې اوس په بستر باندی پروت مړ کیږم چې شهادت می په برخه نه شو.

زن مسلمــــان

مسلمان زن چو در بازار دیدم
نه یکبــــاري هزاران بار دیـدم
به پیچیدم زغیرت مثل ماري
به قلب خویش زهر مار دیـــدم

د آدب ملغلـرې

خدا گوید که زن در خانه بهتر
بسي محفوظ این دردانه بهتـر
ولي این قوم از تقلید افرنـگ
نداند گـــنج را از آنه بهتـــر
بگوید هر کـسي تعلـیـم کردم
الف را راست وکج هرجیم کردم
نداند اینکه هــر نـادان مغرب
به دین خود خدا تسلیـــم کردم
نمیداریم ماافسوس این غـــم
چه باید کرد مــارا اندریـن دم
کف ماازین زمان از ماچه جوید
زتسبیح دراز وتیـغ محـــــکم

اتل شهیدته

د: عبدالحنان « همت »

شهیده تا د خپل اسلام په خاطر ډیر ګواښونه او دردونه تیر کړل دخپل ملت د سوکالی لپاره تا ډیر ربړونه، تاراکونه تیر کړل تا د کلك هود او د وجدان له مخی دښمنګرو ټول قصرونه ړنګ کړل تا د هیواد پرهسکو غرونو باندی داسلام سپین بیرغونه ودنګ کړل ستا د سرو وینو انعکاس ومونږته دغرب له لوری شین اسمان رابښی ستاقربانی او ستا ایثار شهیده په وینو سور ستا زنځدان رابښی ستاڅوانی په بن کښې اور ولګید هاستا دهیلو غوټی مراوی شولی د انقلاب د راوستو په بدل ستا د ژوندون جونګړی شاړی شولی تا توری شپې په مخه واخیستلی په خپلو وینو دی ډیوی بلی کړی د قرآن او د عرفان له مخی تا د دښمن ټولی تخري غلی کړی ستا د پرون وینی لا وچې ندی ستا جهادونه لا تیرشوی ندی تاچې لـه روس سره ډغر وهله ستاخدمتونه لاهیر شوی ندی خیر که شهید شوی اوتوږه نوته شوی خو ددښمن ته دی سرخم نکړلو که دی واړه پښیمان وژړیدل په مخ روان وی هیڅ دی غم نه کړلو ګرانه شهیده نه دویاړ نښه شوی زما همت د افتخار نښه شوی

حضرت عمر«رضي الله عنه» در خطبه ئي فرمودند:

اي اهل اسلام مـــن بادشــاه نیستم که شما را غلام بسازم خودمــن غـــلام (بنده) خدا هستم

بعداز فتحه قادسیه سعد رضی الله عنه نامه فتح بحضور حضرت عمر رضي الله فرستاد ومقتولین طرفین را آن شرح داد حضرت عمر رضي الله عنه از روزي که معرکه قادسیه آغاز یافته بود این امر رامعمول فرموده بود که روزمره به وقت طلوع افتاب از مرینه منوره مي برامد ودر انتظار قاصد چشم براه مي بود، روز حسب معمول از شهر برآمد دید که شتر سواري ازآن طرف مي آید بعداز استفسار معلوم شد که اوقاصد سعد بوده ومژده فتح اورده است.

چون حضرت فاروق رضي الله عنه وامنیت که قاصد است ومژده نصرت اورده ازاو تفحص کرد قاصد گفت از لطف خداوندي اهل اسلام فائز بمرام شده اند حضرت فاروق رضي الله عنه در رکابش پیاده میرفت وجویاي احوال جنگ می شد چون شتر سوار داخل شهر شد دید که هرکس که پیش رو می آید رفیق پیاده اورا که در رکاب میدود به لفظ امیرالمؤمنین خطاب میکند بمشاهده این حال ترسید وبرخود بلرزید وگفت که اي سیدالقوم چرا از خود معرفي نکردید؟ که من از بی خبري مرتکب بی ادبی شده ام . فرمود که مضائقه ندارد باید که سلسله کلام راقطعه نه کنی الغرض بهمان حال در رکاب قاصد پیاده تا استانه خلافت رسید ودر مجمع عام ، اهل مدینه را از فتحه مژده داد ویك خطبه مؤثر خواند که فقره آخرش بدین مضمون بوده اي اهل اسلام من بادشاه نیستم که شما را غلام بسازم خودمن غلام (بنده) خدا هستم البته بار خلافت برسر من انداخته اند اگر من خدمت شما را بایی قسم کنم که شما به ارامی در خانه پاي خود خواب کنید موجب سعادت من است من میخواهم که شما را تعلیم کنم لاکن نه بقول بلکه بعمل خود.

دشریعت تبصره

طالبان له کوم شخص اویاتنظیم سره دښمنی نه لـــری

دا یو څرګند حقیقت دی چې دجهاد په څوارلس کلنه موده کی طالبان که له یوی خوا په مدرسو کی په دینی زده کړه بوخت وو، نو له بلی خوا یی وسله وال سنګرونه هم تاوده ساتلی اووخت په وخت به وسله والو سنګرونو ته تلل اوله دښمن سره به یی په مخامخ جګړه کی فعاله برخه اخیستله چې په همدی جریان کی زیات شمیر طالبان شهیدان اوزیات شمیر هم معیوب شول. خو چې کله په هیواد کی کمونیستی رژیم راوپرزیدو نو طالبان په دی داډ چې اسلامی وظیفه یې سرته ورسیده بیرته خپلو مدرسوته ستانه شول او خپلو زده کړو ته یی دوام ورکړ.

له بده مرغه کله چې دجهاد عالي اهداف تر پښو لاندی کړای شول، په هیواد کی داسلامی نظام پرځای وحشت او بربریت پیل شو، ملی شتمنی ولوټل شوی، دخلکو ناموس تر ګواښ لاندی راغی اوتوری ډول ډول ناخوالی پیل شوی، نو طالبان بیا هم دخپل اسلامی رسالت له مخی مجبورشول چې یوځل بیا له مدرسو راووزی او هیوادوالوته له دغه ناوړه حالت څخه نجات ورکړی، خو ګران هیواد وال او نړیوال شاهد دی چې دطالبانو دغه اسلامی حرکت ته ټولو مسلمانو هیوادوالو هرکلی ووایه اوپه ډیره لږه موده کی یی دخپلو مسلمانو خلکو په همکاری دهیواد له نیمایی نه زیاته برخه له ظلم اوفساد څخه پاکه کړه.

طالبانو دخپلو دغو اسلامی اوبشری عملیاتو په جریان کی له هیڅ کوم شخص اویا تنظیم سره ددښمنی نیت نه درلود او اوس یی هم نه لری بلکی ئوازی اوبوازی غواړی چې هیوادوالوته دځپیکیانو له شر څخه نجات ورکړی . خو چې ځوك ددوی ددغو اسلامی اوملی پروګرامونو دعملی کیدو په لارکی خنډ کیږی بیا نو مجبور دی له خپلی مخی څخه یی ټول خنډونه لیری کړی چې په دی صورت کی امکان لری ځینو هغو اشخاصو او یاتنظیمونو ته تاوان متوجه شي چې غواړی ددغو اصلاحی پروګرامونو په وړاندی خنډ شی.

دطالبانو اسلامی تحریك بوازی اوبوازی په ملا اوطالب پوری اړه نه لری ځکه دایو اسلامی اوملی تحریك دی، ټول ملت یی ترشا ولاړ دی اوټول کړیدلی ملت خپل ارمانونه په دغه تحریك پوری تړلی دی اوپه هره سیمه اوهره ساحه کی چې دخلکو مرستی اوهمکاری ته اړه پیدا شوی ده هغوی تری ډډه نه ده کړی او د زړورو سپاهیانو په شان دطالبانو ترڅنګ دریدلی دی .

زموږ مسلمان هیواد وال په ځو تیرو ورځو کی په لویه پکتیا کی دطالبانو داسلامی تحریك دیو لړ بریالیو عملیاتو شاهد دی، دغه بریالی عملیات دیوه داسی عمل په مقابل کی عکس العمل و چې پرته له دی څخه بله چاره نه وه ځکه دکابل انتلافی اداری غوښتل په سیمه کی دخپلو بریځو په مرسته دخلکو ورځنی ژوند ګډوډ کړی اوپه دی توګه دطالبانو ترکنترول لاندی سیمو کی امنیت او استقرار له منځه یوسی، نو طالبان چې بوازینی هدف یې په هیواد کی امن او استقرار دی مجبور دی تر هرڅه دمخه دتخریبکاری او وران کاری مخه ونیسی تر څو داسلامی نظام دتینګښت لپاره لاره ا واره کړی پاتی نه وی چې دلویی پکتیا په دی وروستیو بریالیوعملیاتو کی دپکتیا دمسلمانانو، دیندارو او زړورو خلکو هغه قربانی اوسرښندنی دهیرولو نه دی چې دتخریبکارو په له منځه وړلو کی یی دطالبانو له اسلامی تحریك سره تر سره کړی دی. نو موږ بیا هم خپلو هیوادوالو ته دا په ډاګه اعلانوو چې طالبان له کوم شخص یا تنظیم سره دښمنی نه لری بلکی غواړی چې په هیواد کی دمسلمان ملت له ارادی سره سم واقعاً اسلامی نظام راولی اوس.

دکابل سقوط دکابل دیوه ارسیدونکی له نظره

کابـــل دسقوط په حال کـی

دستګیرپه قلم

د رباني اداري باندی دکابل ددفاع ټولی لاری بندی شوی

کابل چې زموږ دګران اوشهیدپالونکی هیواد مرکز دی اوس دسرغنو اوفجایعو پر مرکز بدل شوی اوداسی ... می اوفجایع به نه وی چې هلته یی نښې نښانې موجودې نه وی که دیو خوا لوره ، خیرات ټولول اوپه خالي ګیډه شپه تیرول سخې دکابل خلکو دژوند خبر ګرځیدلی نو دبلی خوا بیا دقدرت واکداران او وسله وال په داسي سره چرچو اخته دي چې پیلکه یی ځوك نه شي ... نه ... هم

دکابل ښاروزنو اولوتوی اوله بلی خوا بیا دوی دننا ... ځوکی بلونګونه اوبلند سرل تعمیرونه جوړوي، داسي کورونه چې دیوه بل سره په رقابت کی دی . زیاتی خپل یوه عادی نفرته به عرضه باندی د دوه سوو یا دری سوولکو افغانیو د مرسی امر ورکوی اوپه دولتی مامور باندی بی بوتیم لل هم نه لوریږی ، همداشان باعث شوی چې کابل کی بدمرغی اوج ته ورسیږی اواوس ورو ، ورو داګونګښی زیات شوی چې راځی سرکوټو ته ووځو.

په کابل ښار کی فجایع هم بیخی له حده زیاتی شوی وسله وال چې څه یی زړه وغواړی هغه کوی، که دچا لور ئی خوښه شوه په زور ئی تری بیایی، که دچا تعمیر اوکور یی خوښ شو په زور یی سری اخلی، چې کوم سوداګر وګوری وژنی یی پیسی تری لوټ کوی حتی تردی چې دخلکو له کورونو ټیلفونونه په زور خپلو کورونو ته انتقالوی، غلا، دمارکیټونو او کورونو لوټول او دخلکو له جیب څخه په زور پیسی اخیستل د وسله والو مشغولا ده . که دښار په کوڅو داسی سیمې کی دی کـار و چې څه ګوته ښیئا کسه او د وسله والو پوستی وی هیکسی یا نور موټر بیخی په سختی درسره ځی او دهغو خبره داده چې دپوستو والا پیسی او موټر را څخه اخلی. په ښار کی دموټرو تیښتول اوغلا هم بیخی زیاته شوی بدمرغی او فحشا خو بیخی عادی خبره ده چې زیاتره کلونکی وایی دکابل واکداران پخپله دی شی ته لمن وهی ځکه که ددی کار مخه ونیسی بیا ځوپکیان یی جګړه ته کوی او ټول به وتښتی . هغوی همدی فساد او چور چپاول دی ته هڅولی چې دکابل د اداری څخه ددفاع سنګر کی ولویږي، په خصوصی صورت کابل کی هر ډول بدمرغی اوفجایع زیاتی اومخ په زیاتیدو دی. دولتی اداری هم درشوت ، زور اوچور چپاول مرکزونه دی. که یوه مامور ته ووایی چې دا کار راته خلاص کړه که هغه ډیر عادی کار هم وی له پیسو پرته بی نه درته خلاصوی، اوددی علت دادی چې خلك داقتصادی مشکلاتو له وجی هر کار اوغلا ته مجبور شوی. چې کوم بی وس لری دهجرت لار بی خپله کړی اوهغه چې دهیڅ وس نلری یا هم خپل کورونه له ځوپکیانو څخه ساتی کابل کی پراته دی اوس ټول دی ته سترګی په لار دی چې دنجات فرشتی به کله دی ښار باندی راڅرګندیږي ترڅو دکابل خلکو ته د اسلام هیواد او انسانیت له دښمنانانو نجات ورکړی، زه دلته په لنډه توګه ځینو هغو عواملو ته ګوته نیسم چې ښایی دهغو له وجی ډیر ژر کابل سقوط وکړی.

۱-دکابل اداره بیخی دخلو اولوتمارو یوه اداره ګرځیدلی دوی خلکو ته د امن په راوستلو کی ناکام شوی حتی دتیرو ګونګیو رژیمونو په پرتله یی هم څه ونکړای شول بلمقابل ددوی په مقابل کی دخلکو له منځ څخه دطالبانو غورځنګ راپاڅید او هغوی ډیر کم وخت کی داسی کسارونه وکړل چې دخلکو اطمینان یی جلب کړای شو.

۲- دکابل له اداری څخه دافغانانو کرکه اوهغی سره دهمکاری د نه کولو باندی پخپله ددی اداری واکداران هم پوهیدلی او اوس دا ورته ثابته شوی چې شکست حتمی دی او باید له همدی موقع نه په استفادی سره ځان وباسو ځکه هم دهر یوه چې وس کیږی دخارجی سفارتونو دکارکوونکو په نامه تیښتی ، یا چې کوم بهرنی سفر ته لاړشی هماله سیاسی پناه اخلی کوم بو چې کابل کی پاتی دی هغوی دغلا اوچورچپاول له لاری پیسی لاس ته راوړی ترڅو ځانونه ساره کړی اوپه خپلو پیسو ځان ته دتیښتی لاره برابره کړی، دا ټول له دی نمایندګی کوی چې دوی خپله ناکامی پخپله حتمی بولي.

۳- دکابل اداره په یوی محدودی قبیلی پوری مربوطه ده ، دنورو سیمو اوقبایلو کوم کسان حتی مشران چې هلته دخپلو ډلو سره پراته دی هیڅ صلاحیت نلری اوحتی ډیر سخت توهین کیږی ځکه هم دی چې ځان دکابل دفاع ته مسئول نه بولی اونه روحاً دی ته اماده دی هلته هرڅه دپنجشیریانو لاس کی دی، همافوی به جنګیږی اوهغوی په دومره لوړه سطحه دجګړی توان نلری . بل داچې دکابل لوسېږی کرښو کی د نورو سیمو افراد هم زیات پراته دی طالبان کولی شی له دی موقع نه استفاده وکړی دا د نورو سیمو خلك چې هلته پراته (زما مقصد مجاهدینو دځینو ډلو دافرادو دی) ټول له دی ویریږی چې ښایی طالبان موږ له منځه یوسی، له ولایاتو نه کابل ته راتښتیدلی اودکابل اداره داسی روحیه ورکوی چې که کابل سقوط شو ټول به ژوندی یو وکه له منځه لاړل ټول به له منځه تللی یو ، هغوی هم ډول دکابل له اداري پوری نه راغلی خو همدا ویره ورسره ده چې ښایی طالبان مولـه منځه یوسی. که طالبان کوښښ وکړی له دی موقع نه استفاده وکړی هغه خللك له ځان سره ملګری کړی ، یاهغوی ورته اعلان کړی ښایی چې دکابل فتحه به بی ډیره رالنډه کړی ځکه کابل ...

دهغوی موجودیت بل عامل نلری پرته له دی چې له طالبانو ویریږی.

٤- دکابل اداره بیخی دکابل ښارپه یوه کونج پوری محدوده پاتی شوی عملاً ټول ملت له طالبانو سره دریدلی ، روحاً دا پرهغوی اوخلکو اغیزه لری او نور ددی توان ځان کی نه ګوری چې ددی راپاڅیدلی توپان په مخ کی ودریږی.

۵- دافغانانی د ارزش رالویدو هغوی سخت وارخطا کړی ، دوی دا ځلور کاله په پیښو باندی کابل وساته ښایی نور داتوان هم ونلری ځکه اوس نو دقوماندانانو د خرج پیسی کاتیتیر هم نه رسیږی.

٦- دکابل وسله وال نور خپلو جګړه ساړو ته دجګړی انګیزه نشی ورکولی ، هغوی به په څه نامه وجنګوی او څه به ورته ووایی چې جګړه دڅه لپاره ده، همداشی باعث شوی چې دوی په لومړیو کرښو کی هیڅ حرکت نشی کولی قوماندانان پیسی واخلی بو ټك ټوك جوړ کړی، پیسو ته بهانه پیدا کړی او نور هیڅ هم نه وی.

۷- په نړیواله سطحه هم دکابل وسله وال بیخی تجرید شوی ځکه یی ترڅنګ نه دریږی ځکه چې ټول په دی پوهیږی چې نور له دوی څخه نه جوړیږی حتی هغه هیوادونه چې دکابل د وسله والو واکداران تر شا دریدلی اوس په دی پوهیدلی چې داخلی په ملت کی ځای نلری اوکه درلودلای یې بیایی څلور کالوکی به یی لږ څه دواکداری ساحه پراخه شوی وای .

په هرصورت دکابل سقوط خاصتاً دطالبانو داسلامی غورځنګ تر وروستیو فتوحاتو وروسته حتمی ښکاری خو باید چې دکابل لور ته ګامونه لږ دچا خبره په مزه مزه او تدبیر سره واخلی او ددوی دیوه مشرپه وینا دکابل نیولو ته داسي عجله ونکړی چې ترنیولو وروسته ځوك ورته مشکلات جوړ کړای شي.

قره بیگ په زور دکورنیو چارو...

. دکابل له ښار څخه د راغلی یوه عینی شاهد د وینا له مخی دکورنیو چارو په وزارت کی هغه وخت ددوی ترمنځ شخړه پیښه شوه کله چې رباني اوحزب د ماهیپر دمعاهدی له مخی عبدالله جان واحدی د کورنیو چارو وزارت لومړی معینیت ته پیشنهاد کړ خوپه مقابل کی قره بیگ چې مخکی تردی فیصلی هلته معین و راپاڅید اوویی ویل ځوك داتوان نلري چې ماله دی چوکی لیری کړی. تش په نوم دولت دزور له لاری کوښښ کاوه هغه له دی چوکی لیری کړی. خو هغه ټول وزارت کی وسله وال کسان دروالی اوچاته یی اجازه ورنکړه چې دا کار وکړی بلاخره ربانی مجبور شو عبدالله جان ددوهم معین په توګه پیشنهاد کړی اوهغه اوس دی دندی ته حاضر نه دی.

د یادولو وړ ده چې قره بیگ پنجشیری دی اوپه دی خاطر چې اصلاً حکومت ددوی دی ځوك په دی نه دی بریالی شوی چې هغه له چوکی لیری کړی.

یکجا شدن ربانی وحکمتیار تنها برمبنای منفعت شخصی ...

ملت مسلمان ومجاهد دانسته ، وهمچنان در سایه شریعت در افغانستان زندگانی همه ملیت ها را بدون تبعیض خواهانیم . به ارتباط اتحاد ویا ائتلاف بااهل تشیع باید بگویم کـه میـان اهل تسنن واهل تشیع افغانستان کدام اختلافی نیست. اما ما همرای احزاب سیاسی اهل تشیع با وجود عدم مخالفت کدام اتحاد وائتلاف نداریم.

سوال: نماینده جدید ملل متحد که غرض آوردن صلح در کشور تلاش میورزد او در سفر اخیر خویش چه خواسته وطرح داشتند؟

جواب: ما باربار موقف صلح پسندانه خود را توضیح داشته ایم. مگر متأسفانه که نماینده خاص ملل متحد در مورد حل مسئله افغانستان‌ازخودکدام‌طرح‌شخصی‌نداشتند.

سوال: اگر در مورد علایق خود با دول همسایه روشنی باندازید مهربانی جناب عالی تان خواهد بود؟

جواب: ما با درنظر داشت مراعات أصل عدم مداخله در امور داخلی هم دیگر خواهان روابط حسنه با تمام دول همسایه و با دول برادر اسلامی همسایه مسلمان به اساس برادری اسلامی تعلقات حسنه واطمینان بخشی راخواهانیم .

اما متاسفانه همسایه غربی ما (ایران) باحسن نیت ما موقف منفی نی را در مقابل ما از خود کرده است. که باوجود آن ما باانها به حیث همسایه مسلمان خواهان روابط حسنه میباشیم.

سوال: گفته میشود که تحریک اسلامی طالبان وقت دست به قیام زد کـه میـان حکمتیار و ربانی جنگ وجدال بود وبه این واسطه در زمین خدا فساد پهن گردیده بود، حالا که ربانی وحکمتیار در میان خودها به صلح وتفاهم رسیده اند شما چرا با اوشان یکجا نمیشوید؟

جواب: یکجا شدن ربانی وحکمتیار تنها برمبنای منفعت شخصی صورت گرفته که در راه حل مشکلات ملت رنجیده ماهیچ کمکی کرده نمیتواند که به همین اساس هم وطنان ما کدام توقع خیری ازآن برده نمیتوانند. ونه باید جهانیان ازآن توقعی داشته باشند. چطور شده میتواند که قاتلین ملت وناقضین عهدها ومیثاقهای گذشته ویك مشت غاصبین برحقوق ملت مشکلات ملت را حل نمایند، در حالیکه موجب فساد وفتنه خود اوشان میباشند روی این ملحوظ ما با اوشان اتحاد ویا ائتلافی را لازم نمیدانیم.

سوال: میان شوری مشرقی، جنبش ملی و پیرصاحب تفاهم صورت گرفته آیا باشما در مورد این ائتلاف تماس گرفته شده است یاخیر در این مورد لطفاً نظر خود را اظهار دارید؟

جواب :از جائیکه تاحال اطراف ذیدخل این ائتلاف وجود این ائتلاف را تائید نکرده اند واز جانب ائتلاف کننده گان واین ائتلاف رد شده است لذا ضرورت به اظهار نظر ورأی دراین مورد اصلاً باقی نه میماند.

سوال: درصفوف تحریک کدام اشخاص که به وظایف گمارده میشوند، بعداز مدت کوتاهی از وظیفه خود به وظیفه وکاری دیگر تبدیل و توظیف میگردند سبب آن چه بوده؟

جواب : از جهت که در کارها ووظایف به تجارب واستعداد های مختلفی ضرورت بوده واشخاص روی استعداد وتجربه که دارامیباشند به وظایف وکارها گمارده میشوند وجهت تحکیم نظم و ایجاد روحیه اطاعت وجلوگیری از نواقص اداری چنین اقدام صورت میگرد.

سوال: آیا شما غرض تفتیش ومراقبت مامورین خود کدام اقدامی کرده اید؟

بلی ماغرض مراقبت مامورین خود یك اداره مقتدری بنام کمیسیون اداری تشکیل داده ایم که تامراقبت امورات اداری را کرده ودر این مورد اهتمام لازم بخرج دهد.

در اخیر مجله محترم الطالب از حضور امیرالمؤمنین اظهار امتنان وتشکر کرده واز امیرالمؤمنین خواسته است اگر پیامی به خواننده گان مجله داشته باشندکه مجله متذکره افتخار نشر آنرا بدست بیاورند. امیرالمؤمنین درپیام [illegible] فرمودند.

از همه ئی خوانندگان و ازهمه مسلمین آرزوی مااینست که مساعی مشترك خودرا از مادریغ نداشته تا در کشور عزیز ما حاکمیت اسلام تأمین گردد. در خاتمه برای همه مسلمانها توصیه اطاعت نیك وبندگی نیك خداوند (جل جلاله) را مینمایم .والسلام

د طالبانو اسلامي تحريك په هيواد كي ...

په هدف خبري وكړي اوخپل ماموريت ګي ګټور ارزيابي کړ. ده وويل دافغانستان اوسني حالت دافغانانو په ګټه نه بلکي دبهرنيو قوتونو په ګټه دي، نولازمه ده چي له دغه حالت څخه دوتلو لپار په يو لي لارو چارو فکر وشي اوهغه داچي بوازي پخواني پاچا محمد ظاهر شاه كولاى شي چي هيواد ته سوله راولي چي البته په دی اړه دطالبانو داسلامي تحريك همکاري لازمه بريښي.

په مقابل کي دطالبانو دهيئت مشر محترم مولوي احمد جان له روسانو سره دمقدس جهاد په څوارلس کلنه موده کي دامريکا له مرستوڅخه مننه وکړه او دطالبانو داسلامي تحريك د اهدافو په اړه يې په تفصيل سره رڼا واچوله.

ده وويل: دطالبانو اسلامي تحريك په هيواد کي دظلم اوفساد دله منځه وړلو او داسلامي نظام دحاکميت لپاره راپورته شوی او

دبری تر پولی پوری به خپلو دغو اسلامي اوانسانی هلو ځلو ته دوام ورکوي، دطالبانو اسلامي تحريك دیوه مقدس هدف لپاره پیل شوی دی، دغه تحريك دکوم شخص یا کومی ډلي

لپاره کارنه کوي بلکي هغه لار تعقيبوي چي له اسلام څخه الهام اخلي، نو ددغه عالي هدف دترلاسه کولو په لار کي چي هر څوك مشر واقع كيداي شي اومثبت رول لوبولای شي. ددغه تحريك له هلو ځلو سره دي خپلي هلي ځلي ملګري کړی اوددغه اسلامي تحريك دکامیابی په لارکي دي خپل ملاتړ اعلان کړي.

مولوي احمد جان وويل: ملت څلورکاله موجوده مشرانو ته وخت ورکړ خو هغه څه يې وکړل چي دجهاد اهداف یې ترخاورو لاندي کړل، اسلامي هيوادونو ته موسترګي وي چي حه مثبت رول به ولوبوي، څنګه چي [illegible] يې معه يې ونه کړل، ملګرو ملتونو ته مو تمه [illegible] چي ددغه مشکل په حل کي به له دغه سره مرسته وکړي ، خو هغې معتبري مؤسسې هم څه ونه کړاي شول. نودملت اصلي بچيان طالبان مجبور شول چي په ډير لږ شمیرسره راپاڅيدل اوفساد مخه يې ونيوله؛

ده وويل چي مونږ دخپل مسلمان ملت له ارادی

سره سم حرکت پيل کړی دی ځکه نو دملت ملا تړهم را سره دی او اوس دخدای «ج» په فضل تر ډيره حده پوري دافغانستان مسئله حل ته نږدی شوی ده او زه په مسئوليت سره ويلای شم چي دخدای «ج» په مرسته به ډير ژر دمسلمان ملت په خوښه په هيواد کی اسلامي نظام حاکم شي.

په جلال آباد کي ...

په جلال اباد کی هره ورځ کم ترکمه دورځی ۲۵ اوکله ناکله د ۲۵ څخه زيات جنګونه کيږي دشريعت خبريال خبر راکوي چي اکثره دغه جنګونه دننګرهار دجهادی شورا لخوا دنوبرلس زريزو نوټونو په سر چي دوکاندارانو ، صرافانو او موټرو لرونکي يي دکرايي په وخت له اخيستلو څخه انکار کوی پيښيري.

له بلي خوا دجلال آباد سپاريان چي په دولتي

اداروکي کار کوي دتنخوا په وخت بانك ورته همدا دجهادی شورا نوټونه ورکوی اوکه څوك تري انكار وكري بيا هغه پنځوس ګون ورکوی چي دصراف څخه په ګټه بانګ ته ورکړل شوی وی.

دجلال آباد ښاريانو ته نوره ګرانه شويده چي په جلال آباد کي ژوند وکړي يوه لاره ورته پاتي ده هغه دا چی له جلال اباد نه بل لوری ته کډه وکړي.

که چيري مور وغوارو...

داپرو ريکاتو هم يکي برخه درلوده .

غونډه دعظيم الشان قرآن دځو مبارکو آيتونو په تلاوت پيل شوه وريسي دغونډی اجنډا حاضرينو ته واوروول شوه او بيا دلوګر والي محترم مولوي عبدالکبير دخپلی عالمانه وينا په ترځ کی وويل: کـه چيری مونږ وغواړو دسعادت اونيکمرغی خاوندان شو ، نولازمه ده چي دامیراطاعت او دبيت المال ساتنه وکړو اوله هره پلوه په ځان کی تقوی راولو.

دلوګر د والي له وينا وروسته غونډی ته دامیرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد او رئيس تنظيمه محترم ملا عبدالرزاق پيغامونه ولوستل شول اودپيغامونو دعملی کولو په خاطر مربوطو مراجعوته دصدور امر صادر شو.

غونډه دطالب جان په دوعائيه وينا پاي ته ورسيد.

په ورونيو فتوحاتو کي

ورغلی پدی کی شك نشته چي دا دپاك خدای په خاصه مرسته فتحه شوی اوهم زمونږ دغښتلو مجاهدينو دپاکو نيتونو مظبوطو ارادو اوټينګ ايمان برکت وو چي ومو کولای شول هغه ځايونه چي تيول يي دخلکو د اټکل څخه بهر وو هغه ونيسو.

ده زياته کړه په بعضی ځايونو کی داسی هم شوی چي دهغه ځای ديندارو مخلصو مسلمانانو پخپل همت او توره چي داسلامي تحريك سره يي خاصه دلچسپی اومينه درلودلی مخالفين بی خلع سلاح کړی او ددی موقع يی نده ورکړی چي ددوی له ځايونو څخه داسلامي تحريك پرخلاف ډزی وکړي چي داپخپله د اسلامي تحريك په حقانيت او دخلکو دملاتړ په واقعيت دلالت کوی.

محترم حاجي معاون دخپلو خبرو په بوه بله برخه کی وويل دعلی خيلو چوني ، ګيوی ، سپيني شګی شپولی او داسی نورو دمخالفينو دپنځو سنګرونو اود وسلو دذخيرو دنيوني اوقبضه کولو راپديخوا چي داسلامي تحريکدغښتلو مجاهدينو لاس ته ورغلی اوزمونږ مجاهدينو پر مخنګ کړی دی جنګی سوروال نورهم لوړ کړی اوپدی تکل کی دي کـه خدای «ج» ته منظوره وی په لږ وخت کی به دافغانستان له ټولو برخو څخه دفتنی اوفساد تور ټغر مخ په ټوليدو شي ، امن اوقراري به راشي.

محترم حاجي معاون صاحب دخپلو امورانو داجرا او دمجاهدينو د وړاندی والی ته ډيره خوشی څرګندوله اوداجمله ورسره وه کـه خدای ته منظوره وه په نژدی وخت کی به دفتنی اوفساد عاملين په نابودی محکوم شي.

دطالبانو اسلامي تحريك بهرنيو

روغتيايه رياست کی

ترسره شوه دميرويس روغتون مسئول ملا اکبر شاه اخند هم برخه درلوده .

دکنتنی په پيل کی ښاغلی بروس په کيږدلی او کنهواله شوی افغانستان کی دسره صليب دنړيوالی کميتی اجراات او انسانی خدمتونه ياد کړل وی ويل: مونږه کوښښ وکړو چي دبل هر هيواد په پرتله دافغانستان له خلکو سره زياتی خپلی بشری او روغتيايی مرستی جاری وساتو ځکه چي افغانان په تيرو څو کلونو کی له زياتو مشکلاتو او کړاوونو سره مخامخ شوی دی.

په مقابل کی محترم افغانی د دوی دبشر دوستانه خدمتونو اوهمکاريو څخه دزړه له کومی مننه وکړه وی ويل: دطالبانو اسلامي تحريك بهرنيو خيريه مؤسسو ته دکار ښه زمينه مساعده کړی تر څو دغه خيريه مؤسسی خپلی بشری مرستی په ښه او دارمنه فضا کی سرته ورسوی.

دکنتنی په پای کی دسره صليب دنړيوالی کميتی مسئول ژمنه وکړه چي دوی به دخپلو امکاناتو له مخی دافغانستان له ځوريدلو او کړيدلو خلکو سره خپلی مرستی نه يوازی [illegible] سانی شکی په خپلو دغو مرستوکی

درولايت هرات وهلمند

وعلماء كرام ولسواليهای اوبی ، کروخ ، گوزره ، سیوشان وانجیل ولایت هرات‌ترتیب یافته بود کـه در این گردهمائی پرشکوه مردم هرات والی محترم آنولایت جناب ملابارمحمد آخند هم اشتراك ورزیده بودند.

خبر می افزاید که این جلسه پرشکوه به تلاوت چند آیه از قران کریم آغاز یافت متعاقباً خوانندگان ولسوالیهای متذکره ضمن جستجوهای پیروزیهای اخیر تحریك را به والی محترم هرات تبریك گفته ، اهداف مقدس اسلامی تحریك را تأئید کردند ووعده سپردند که شانه به شانه مجاهدین قهرمان تحریك در تأمین امنیت کامل در ولسوالیهای خود سعی وکوشش نمایند.

در مقابل جناب والی هرات از احساسات نیك اوشان اظهار امتنان کرده فرمودند: وظیفه دینی ما وشما میباشد که در مناطق خود غرض تطبیق شریعت محمدی ، صلی الله علیه وسلم [illegible] های دشمن را [illegible] امنیت همکار یکدیگر شویم.

به اساس یك خبر دیگر در شهر لشکرگاه هم جلسه به این ارتباط ترتیب یافته بود که درآن جلسه والی محترم هلمند جناب ملاعبدالباری آخند هم اشتراك داشتند سخنگویان علی الترتیب حمایه وپشتیبانی خود را از پروگرامهای شرعی وانسانی تحریك بیان داشته وعده هر نوع همکاری را به والی هلمند دادند.

په زيروك کي اته ټانكونه ...

خپله ټوله وسله د ولايت مرکز ته ولیږدوم.

خبريال وايی کله چي په لويه پکتياکی بو لږ عمليات تر سره شول، نو دطالبانو داسلامي تحريك ځواکونو بو هيئت قوماندان پاری ته واستاوه تر څو خپله درنه وسله دولايت مرکز ته انتقال اوبيت المال ته وسپاري خو هغه دخپلی پخوانی زمنی پرخلاف هيئت ته منفی ځواب ورکړ اووی ويل چي «مايه دی وسله ونه [illegible] به هيڅ قيمت دی ته تيار نه يم چي چا ته يې وسپارم».

خبريال زياتوی کله چي دغه خبر دطالبانو د اسلامي تحريك ځواکونو ته ورسيد.نو بو شمير قوتونه يې زمونږ ته وخوځول اودجمعی د ورځي په ماښام هلته ورسيدل. سهار يې له قوماندان پاری سره خبری پيل کړی اوډغرمي تر دوولسو بجو پوری يې دوام وکړ تر څو هغه دجنګ اعلان وکړ اوطالبان مجبور شول خپل پروګرام عملی کړي.

خبريال وايئ د دواړو خـواو ترمنځ په ګلورساعته جګړه کی قوماندان پاری له صحنی څخه بيلی سبکی کړی اوجګړه پای ته ورسيده چي په نتيجه کی اته ټانکونه اوبه زيات شمير سپکه او درنده وسله دطالبانو داسلامي تحريك دځواکونو لاس ته ورغله.

د سراوصال دتلفاتو په باب بايد وويل شي چي دخدای «ج» په فضل کوم لوری تعدسر اومال تاوان ته دی رسيدلی اوس په سيمه کی امنيت دی او خلك خپل ورځنی ژوند ته په واړه زړه دوام ورکوي.

مور دعلماو په فتوای د روسانو...

داسلامي تحريك سپين بيرغونه پورته شوی دی په ډيره لږه موده کی بی دلوی خدای «ج» په مرسته او دخپل مسلمان ملت په همکاری له تيمايی نه زيات هيواد ته له ظلم اوفساد څخه نجات ورکړی دی.

ده وويل: مونږ د روسانو دغلامانو پرخلاف جهاد دعلماو په فتوی پيل کړی اوزه هغه وخت په ارزګان کی وم چي دعلماو فتوی راورسيده ، خو هغه وخت په يقين سره ما برهان الدين اوګلبدين نه پيژندل بوازی ديني عالمان وو چي دکفر اوالحاد په مقابل کی يی دمسلمانانو رهبری په غاړه درلوده.

ده وويل: زمونږ مسلمان ملت څوارلس کاله په پرله پسی توګه جهاد وکړ، قربانی مو ورکړي، وطن مو تباه او ويجاړ شو، لوری اوتندی راباندی تيری شوی، دوينو ويالی وبهيدی، خو داټول کړاوونه ديوه ډير مقدس اوعالي هدف دترلاسه کولو په غرض وزغمل شول چي هغه په هيواد کی داسلامي نظام حاکميت او دکمونيزم له منځه تلل وو.

مولوي سيف الدين وويل: زمونږ دمسلمان ملت دبی [illegible] سيجه کی روسان مات شول، داخلی کمونستان راوپرزيدل اوپرځای يی دجهاد دسنګرونو مشران دقدرت په ګدی کيناستل، خوله بده [illegible] عملونو ته لاس وچاوه چي دروسانو او داخلی کمونستانو ظلمونه اوتاروا وی يی له خلکو هيری کړی ، دوی هريوه پخپل ځنګ کی کمونستان ځای کړل، پرهغوی يی تکيه وکړه ، دجهاد ثمره يی ترخاورو لاندی کړه ، اسلامی نظام يی بدنام کړ ، پخپلو منځو کی يی جګړونه پيل کړل او کنډواله وطن يی لاپسی کنډواله کړ.

ده زياته کړه : زمونږ مسلمان ملت دا ناري وهی چي څه شو هغه اسلامي نظام چي مونږ دهغه لپاره اتلس لکه شهيدان ورکړل، څه شو هغه عمری عدالت چي جهادی مشرانو به يی له خلکو سره وعدی کولی اوڅه شو هغه انسانی کرامت چي دهغه سپارښتنه کوی.

ده وويل : هغه علماء کرام اوس څه شول چي مونږ ته يی دجهاد فتوی راکړی وه هغوی اوس ولی په مدرسو اوجوماتونو کی ناست دی اوسونږ يی دداسی درندګانو منګولو ته سپارلی يو چي نه مو په مال صرفه کوی، نه په ناموس ، نه موعزت ته ګوری اونه آبروته ، له هغو علماو څخه زمونږ هيله داده چي يوځل بيا خپل تاريخی مسئوليت درك کړی او ملت ته له دغه بحران څخه دنجات په غرض راميدان ته شي.

ده زياته کړه: مونږ لومړی هم دکمونستانو په مقابل کی جهاد پيل کړی و او دادی بياهم چي په هيواد کی ظلم اوفساد خپل اوج ته رسيدلی دی مونږ راپاڅيدلی يو او غواړو چي په هيواد کی اسلامي نظام راولو اوخپلو خلکو ته له دغه بحران څخه نجات ورکړو.

مولوي سيف الدين وويل: نن زمونږ ددی عالي هدف په وړاندی ددنيا بو شمير قوتونه بو ځای شوی اوغواړی چي زمونږ ددی سپيڅلی لاری په مخکی خنډونه پيداکړی اونه پريږدی چي مونږ پخپل هيواد کی اسلامي نظام راولو، پرون چي څينو مشرانو دلاشرقی اولاغربی ناري وهلی نن يی عملاً ګورو چي څينو دشرق اوځينو دغرب په لمنو کی ځانونه اچولی دی.

ده وويل: څينی خلك فکر کوی چي طالبانو په هيواد کی دامن او استقرار د راوستلو په نتيجه کی ډير طالبان له لاسه ورکړل اوشهيدان شول بيا به نو داسالم تبليغ څوك کوی؛ خو زه ورته وايم چي دا ډيره کمزوری خبره ده ځکه کـه داسلام تاريخ وکتل شی داسلام دلاس بری لپاره ډير و اصحابو کرامو خپل سرونه قربانی کړی دی، خو اسلامی بيرغ يې رينده ساتلی دی.

ده په پای کی وويل: ددينانو دتبليغاتو تر تاثير لاندی مه راځئ بلکی داسلام تاريخ او دنازولی پيغمبر «ص» مبارکواحاديثو ته وګوری ، نو زه تاسو ته زيری درکوم چي ډير ژر به زمونږ په اسلامي هيواد کی ستاسو په لاس اوستاسو په قربانی اسلامي نظام راشي اوزمونږ مسلمان هيوادوال به له دغه ظلم اوفساد څخه نجات ومومي.

څه نا څه پنځه نيم سوه موټره ...

سره په يوه مرکه کی داسی وويل: طالبانو په دی بريالیوعمليانو کی ډيری وسلی او مهمات تر لاسه کړی دی لکه : شويلی ، رغـره وال ټانکونه ، محـاربوی ټانکونه ، ځلويښت ميله د BM1 دستګاوی ، دی سی توپونه ، غرنی اووسط هاوانوه زيکاويك اوداشکی، سپکه وسله اومهمات.

ده وويل په لنډه توګه دوسره ويلای شم چي څه ناڅه پنځه نيم سوه موټره وسله اومهمات دتور بابا له غونډو ، ګيوی اوسپينی شګی څخه ترلاسه شوی دی چي دپکتيا مرکز ګرديز ته يی دليږدولو لړی روانه ده .

ده وويل: له دغو قرارګاو څخه په وسلو اومهماتو سربيره دجعلی نوټونو دچاپ هغه ماشين هم دطالبانو لاس ته ورغلی دی چي حکمتيار به دځلور کلنی جګړی په موده کی [illegible] جعلی نوټونه چاپول ، ددی ترڅنګ [illegible] جرسپهوروونه ، مخابراتی وسايل او دتيلفونو سامان هم په زياته اندازه دطالبانو لاس ته ورغلی دی.

ده دبوی پوښتنی په ځواب کی وويل : دپيسو دچاپ له دغه ماشين څخه به طالبان استفاده ونه کړی داځکه چي دغه کار نه دملت په ګټه دی اونه دملت داقتصاد په ګټه، دغه شان ماشينونه بايد څينو تنظيمونو

درلودل چي جعلی نوټونه به يی پری چاپول ، خو په زياتو سواردو کی يی زيات مشکلات پيدا کړل اودملت اقتصاد ته يی زيانه صدمه ورسوله، نوزه فکر نه کوم چي طالبان دی له دغه ماشين څخه استفاده وکړی.

د شريعت خبريال دلويی پکتيا له ګوټ ګوټ څخه په خپلو رپوټونو کی وايی چي دسپينی شګی دفتحی په تعقيب په پټان کی دشپولی غونډ، ځاځی ميدان اودمنګلو په جانی خيلو کی دقوماندانان فيض محمد مرکزونه هم طالبانو ونيول اوزياته اندازه سپکه او درنده وسله دطالبانو لاس ته ورغله.

همدارنګه په ټيو کی طالبانو بوليږ تصفيوی عمليات وکړل چي بوه اندازه درنده وسله اوبو شمير ټانکونه لاس ته ورغلل. په دی توګه په لويه پکتيا کی هغه بريالی عمليات په بری سره پای ته ورسيدل چي دلويی پکتيا د ديندارو اومسلمانانو خلکو په همکاری دتخربيکارانو او وراتکارانو پرخلاف پيل شوی وو.

دطالبانو اسلامي تحريك په دی بريالیو عمليانو کی دلويی پکتيا دمسلمانانو اوديندارو خلکو دغه بی دريغه همکاری ته هيروی اوداسلامي حکومت په جوړولو کی به ددوی رول دتاريخ جزوی.

> قطب الدين هلال دسالنګ دلاری دپرانستلو په اړه وويل چي دا کـار ديوه لاس ليك سره سم ترسره شوی، خو رحيم الله يوسف زی له بی بی سی سره په مرکه کی وويل چي جنبش وايي په دی باب کوم قرار داد بالاسليك نه دی شوی.
> دوحدت ورځپاڼی د يکشنبی په خپرونه کښی دجنبش د وياند په حواله ددی لاری په پرانستلو پوری تړلی هيلی خاوری کړی

يوه اندازه اسلحه اومهمات ونيول شول

دزابل ولايت دارغنداب په ولسوالی کی يو ميل زيکاويك ماشيندار ، يوميل ۸۲ ملي توپ اوزيات شمير مهمات ترلاسه شوي اودتحريك دپيوګانو ته سپارل شوي دي

بدون شك قدمهای عملی تحریك اسلامی طالبان بسوی استقرار کشور است

معضله وتراژیدی جاری افغانستان که در اصل زاده مداخله بی اتحاد شوری میباشد وبعداز انقراض اتحاد شوروی ادامه همان سیاستهای مداخله گرانه آن از جانب روسیه در امور داخلی افغانستان از طریق ارسال محموله های نظامی ،کمکهای اقتصادی وارسال مستشاران فنی ونظامی به اداره کابل ودرکنار آن ازخود کردن سیاستهای غیر واقع بینانه دول منطقه که بر محور منافع به خصوصی هشخاص وطنی آنها چرخش داشت ودارد افغانها را در تعین سرنوشت شان به مشکل وسر درگمی مواجه گردانیده اجازه نداده ونمیدهد که به حل مشکل خودها طوری که شاید وباید خود موفق شوند.

اگر مداخله های خارجی اجازه بدهد افغانها قادر میباشند که به تراژیدی فعلی کشور شان خاتمه بدهند طوریکه به مشکل خطیر نظامی که از مداخله شوروی به میان آمده بود به ریختاندن خونها وقربانی بیدریغ سرومال خود خاتمه بخشیدند جهان بشری وبه خصوص دول منطقه را از خطراتیکه از ناحیه تجاوز کمونیزم بر افغانستان متوجه آنها شده بود وسیله نجات شدند واز این ناحیه احسان ومنت بزرگ بر همه جامعه بشری وخاصتاً دول منطقه نهادند.

در مقابل لازم می نمود که جهان بشری ومخصوصاً دول منطقه اخلاقاً در راه احیاء واعمار مجدد نظام سیاسی، دولتی ، اقتصادی ، عمرانی و... کشور افغان مخلصانه وبرادرانه مساعدت وهم نوائی میکردند ووجیبه دینی وانسانی خود را در مقابل محسن خود ها (ملت مجاهد افغان) انجام میدادند که متأسفانه چنانیکه لازم بود نکردند. حتی در فکر اعمال نفوذ بیشتر از طریق مهره های خود در کشور افغانیان که طبیعتش بامداخله خارجی واجنبی سازگاری ندارد شدند که این امر باعث ادامه تراژیدی خونین فعلی گردید.

اگر خارجی ها از سیاستهای حریصانه وآزمندانه در قبال افغانستان دست بکشند وبه واقعیتهای عینی اعتراف کنند، افغانها طوری که شاید وباید به حل مشکل خود کامیابی حاصل خواهند نمود.

که متأسفانه آثاری از چنین تحول ودیگر گونی در اوشان مشاهده نشده در عوض دیده میشود که تحرکات آنها بیشتر گردیده هر یك از اوشان منافع به خصوص اقتصادی وسیاسی خود را در کشور مجاهدان عنوان داشته ودر صدد به اصطلاح دفع نفوذ این ازآن وآن از این میباشد، این اسلام را در افغانستان در خطر میبیند وآن خطه، پاك وصلح پسند افغان را مرکز تروریزم ومواد مخدره نشاندهی میکند واین مخلص! دیگر هم همه نابسامانیها وپرابلمهای اخلاقی وامنیتی ملك وملتش را از افغانها ووسایل نظامی جهادی اوشان میداند وازآن دعوت بعمل می آورد که زیور(سلاح) افغانها را از اوشان بگیرد!!!! این ،آن واین مخلص! همه به اصطلاح عامیانه ملك ما؛بز درغم کشتن وقصاب در غم چربوه میباشد وبس.

تحریك اسلامی طالبان با رها مخالصانه وجرأتمندانه گفته ومیگویند که ما داعی وحامی صلح وامنیت جهانی برای همه جهانیان بدون در نظر داشت تبعیضات منطقوی، کشوری ، نژادی، مذهبی واقلیتی میباشیم.

تحریك در ساحه سلطه ونفوذ خویش به هیچ نوع اعمال خلاف اخلاق ، امنیت وصحت بشری وحرکات وفعالیتهای تروریستی اجازه نداده وتوصل به تروریزم را برای رسیدن به اهداف انسانی اسلام مثبت ارزیابی نمینماید وعملاً دست در کار بوده به پرابلمهای که باعث ادامه تراژیدی کشور وممکن احیاناً سبب ناراحتی دیگران بیرون از مرزهای کشور گردیده باشد خاتمه به بخشد.

که الحمدلله تحریك ازاین ناحیه توفیقات مزید وتاریخی ئی را بدست آورده ودر بیشتر از نصف کشور امنیت مطلق ونمونه یی تحکیم بخشیده، وگردآوری اسلحه های غیر قانونی در محدوده های وسیع تحریك موفقانه به پایه تکمیل رسیده که از این رهگذر از استعمال غیر مجاز وبی مورد آن که باعث تراژیدی فعلی کشورما وتهدید بالقوه واحیاناً بالفعل دیگران میگردید خاتمه بخشده شده واز همه کارها وبارهای که منافی اخلاق وعزت فردی واجتماعی ، ومضر به امنیت وصحت بشری پنداشته میشد به خصوص مواد مخدره در محدوده استطاعت جلوگیری شده ، واز همه مهمتر قدمهای استوار ومتین در راه تحکیم یك نظام واداره واحد مرکزی نهاده شده است که از انظار عامه جهان پوشیده نخواهد بود.

موارد که به ارتباط فعالیتهای تحریك یاد آور شدیم نه تنها خواست ملی ما پنداشته میشد بلکه همه جامعه بشری وسازمان ملل متحد غرض تحکیم صلح وامنیت واستقرار یك نظام واحد مرکزی ملی درافغانستان همین موارد را ضروری واساسی عنوان میداشت. ممکن فرق شکلی و تخنیکی ئی در میان باشد که این طبیعت هر پروسه بشری پنداشته شده ، میتوان این نقیصه جزئی را اگر مشاهده گردد در فضاء تعاون وتفاهم وتساند مخلصانه حل وفصل نمود، اگر هدف از فعالیتهای حاد فعلی منطقوی وبین المللی چیزی دیگری غیر از اقامه صلح ، امنیت وتحکیم یك نظام واحد اسلامی در افغانستان باشد ، طوریکه چنین محسوس میگردد به یقین گفته میتوانیم که مشکل فعلی را نه تنها حل نه می کند بلکه به پیچیده گی آن خواهد افزود.

دسالنګ دلاري په پرانستلو پوري ترلي هيلي خاوري شوي

دبنديانو دتبادلې خبره ناکامه شوه

نوائي وقت: داګست ۳ ، دبنديانو دتبادلی په سلسله کی دعبدالرشيد دوستم اوربانی حکومت له ناکامی نه وروسته ، دسالنګ لويه لاره له دوه نيم کاله بنديدلو نه وروسته دوستم په يو طرفه ډول خلاصه کړه، دوستم اوربانی اداری موافقه کړی وه چي دواړه خواوی به لس لس تنه بوديل بنديان خوشی کوی، خو کله چي څرګنده شوه چي احمد شاه مسعود ددوستم د بوئن هوايئ ځواك جنرال حفيظ الله دخوشی کيدلو څخه انکار کړی ، نودوستم هم دمسعود دلس تنه بنديانو چي په هغه کی د مسعود بو نژدی ملګري مولوي ظاهر هم وو ، دخوشی کولو څخه انکار وکړ.

ويل کيږي چي د دوستم او کابل دحکومت ترمينځ دبنديانو دخوشی کولو په بوه ټرون باندي موافقه شوي وه چي دواړو خواوو بايد دتيری پنجشنبی په ورځ دلاری دخلاصولو په وخت کی له ځانه سره لس لس تنه بنديان د تبادلی لپاره راوستی وای دوستم دبنديانو په لړ کی يوولس مياشتنی مخکی دخپل بندی دهوايی ځواك بو جنرال حفيظ الله غوښتنه کوله، او دربانی د اداری بوه قوماندان احمد شاه مسعود دخپلی ولی دنظار دشوری ديوه مشر مولوي ظاهر دخوشی کيدلو مطالبه کوله. ټاکلی وه چي دا کار به دسهار په ۱۱ بجو کيده ، خودمسعود نژدی

ملګري واکستر شاهد اود ربانی يوه منشی دير وروسته په دوونيمو بجو دغه بنديان له ځانه سره راوستل چي حفيظ الله په کی نه وو، په دی باندی د دوستم ملګرو له دوستم سره تماس ونيو چي دوستم دحفيظ الله په خوشی کيدلو اصرار وکړ او په دی توګه د بنديانو دتبادلی خبره ناکامه شوه ، خو دسالنګ دلوی لاری خلاصيدل دوستم په يو طرفه ډول اعلان کړ اودکابل حکومت بی بوځلی بيا د وعدی په ماتولو باندی تورن کړ او وی ويل چي دوی په وعده وفا نه ده کړې.

ديو بل رپوټ له مخی دوستم وويل چي ده دسالنګ لويه لاره دتجارانو، اوعالمانو دغوښتنی په اساس دعامو خلکو دآسانتيا په منظور خلاصه کړه، او داکاريی دکابل له اداری سره دکوم تړون يا معاملی په اساس نه دی کړی.

د يو بل خبر له مخی دجنبش وياند وويل دسالنګ دلاری دپرانستلو مطلب دانه دی چي جنبش دکابل ائتلاف سره دملګرتيا اراده لری بلکی دی ائتلاف کی دشامليدو هيڅ امکان نشته ځکه چي دافغانستان دتباهی بنياد هم دوی ايښی دی.

جنبش وايي چي حکمتيار دنظرياتی کمونستانو په نوم له سرکاری عهدو څخه خپل مخالفين شړل غواړی. پاتي (۵) ستون

دکندهار پوهنتون دتعلیمی کال دکانکور ازموینه

دلورو اوملکی تحصیلاتو د ریاست خبرتیا

دکندهار پوهنتون دتعلیمی کال دکانکور ازموینه د روان کال دسنبلی دمیاشتی په ۲۷ نیټه دکندهار پوهنتون په انګړ کی سرته رسیږی.

ټول هغه کسان چی ثانوی دوری یی پای ته رسولی دی اوغواړی عالی تحصیلات بشپړکړی باید خپل غوښتنی ، لیکونه دسنبلی دمیاشتی تر ۲۵ نیټی پوری په کندهار کی دعالی تحصیلاتو ریاست ته وړاندی کړی.

دګډون بیه	شپږمیاشتنی	کالنی
پاکستان	Rs. 200	Rs. 400
د خلیج هیوادونه	SR. 150	SR. 300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

یادونه

ښایی ستاسو لیکنی په اجازه در نکړی چی دا ډول سپیڅلی پاڼی په ناوړو ځایونو کښی وغورځوی.

SHARIAT WEEKLY
Editor-in-Chief : Molvi Ahmad Jan.
PAK-RUPE A/C; CD. No. 1694-69
Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch
Peshawar Pakistan